پرله پسې ګڼه

٤٠٨

پښتنې مورکی !

دماشوم دځانګو ځنګول دمځکی دکرې ښورول دی

په روزنه او پالنه کی ئی غور !!

نوی نسل

دییا وړی الفت یه قلم

له ځمکی نه بخار پورته شو
له بخار نه وریځ جوړه شوه
له وریځی څخه باران و وریده
له باران څخه د پسرلی ګلان پیدا شول
له ګلو نو څخه خوشبوئی پیدا شوه
و کوری ء! موریا پلار او زوی څومره فرق لری؟
دغه تفاوت چه د باران او ګلانو یا ځمکی او بوټو ترمنځ وینی ء دیوه او بل نسل تفاوت
همدوغومره دی که اولادونه میندو غوندی وای له غرونه به لعلونه نه پیدا کېدل
له دریا بونه به مرغلری نه راوتلې
له ابشار نه به بر ښنا نه را تله
د ړندو اولادونه به ړانده وو،
له کڼو څخه به کاڼه زېږېدل

اوس پوه شوی ء! چه نوی نسل او زوړ نسل یو رنګه نه وی
که تاسې خپل ځلمی زوی ته زړه بوډی په نکاح کړی ء یا خپله پیغله لور اتیا کلن بوډا
ته ور کوی ء له خپل اولاد سره دښمنی کوی ء
زړه تر بیه او نوی نسل همدغسی و ګڼی ء!

(۲٦) کال (٤) کڼه

کابل

پښتو ژبنۍ مصوره

اجتماعی ، ادبی ، علمی او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند — پښتو ټولنه

مسئول چلوونکی — محمد دین ژواک

ټولی لیکنی د پښتو ټولنی د مشر
صدیق الله رشتین په نامه کیږی

پته : پښتو ټولنه ـ د ابن سینا واټ کابل د ټیلفون نمبر ۲۰٤۷

د ۱۳۳۵ ش کال د ثور (۱۵) د ۱۳۷۵ ق کال د روژې (۲٤) د ۱۹۵٦ ع کال د مې (۵)

وئې لولئ !

په دې ګڼه کې مضامین اولیکونکې

پاڼه	مضمون	لیکونکی	مخ
۱	دپښتو ټولنې	محمد دین ژواك	(۱)
٤	چهار بیته	ښاغلی خواجه رزق الله	(٤)
٥	مالیدي	« خاطر ایریدی	(٥)
٦	مهرانې او	« ثابت	(٦)
۹	دیسرلی سندره	« قادرخان بزمی	(۹)
۱۰	متون او	« امین الله زمریالی	(۱۳)
۱۱	نوی کال	« ژواك	(۱٤)
۱۲	دنرګس مرګ	« جلوه ترجمه	(۱٥)
۱۳	دیسرلی	« محمد ګل کجل	(۱٦)
۱٤	یه رام پور کښې	« سیفی	(۱۷)
۱٥	دتونس خپلواکی	« م هاشم ترکی	(۲۳)
۱٦	دپښتو قلمی	« دبیمار ترجمه	(۲٥)
	خوږې نغمې	ملنګ جان	

ستاسی خوښیزی

JUL 16 1956

د پښتو ټولنې څخه غوښتنه

که له ما څخه دا پوښتنه وشي چه پښتو ټولنه باید څه وکړي؟

زما ځواب خو دادی چه پښتو ټولنه باید په ټول قوت ثقافت (ژبه، ملیت، تهذیب) ژوندی کړي مګر نور؟

ددوی ځواب زه ودوی ته پریږدم او دوی باید پخپله خپل ځواب و وائي اوس به نو راشوودې خبری ته چه زه ولی د پښتو ټولنې څخه د ثقافت ژوند غواړم- دا ځکه:

چه ژوند او د ژوند چاری داجتماعی قانون له مخی باید وو ېشلی شی او د خپل و ېش په اساس و تقاضاته د کامیابۍ هیله وشی خو که دا وېش او که د همدې وېش په اساس تقاضا او د کامیابۍ هیله نه وی زما په فکر چه د ژوندانه نظم به چندان جوړ هم نه شی.

زما په خیال خو ژوند د همدې وېش او د وېش سره د مسئولیت ذمه اخستل د انسانانو د کامیابۍ یوازینۍ وسیله بلل کېدای شی نه بل شی ځکه که انسان یوه جامعه د وجود سره مشابه کړی نو دا زما ادعا به ښه تر اورته څرګنده شی چه یو انسان د ډیرو غړو خاوند دی مګر هر هر غړی ځان ته بېله بېله وظیفه او دنده لری نو که څوک د غوږ څخه د لاس کار اخستل غواړی یا د پښې څخه د سترګی دنده د ډول ادعا ته به سړی معقوله و وائي که غیر معقوله!

زه خو وایم چه دا ډول ادعا غیر معقوله څه چه غیر ممکنه لاهم ده.

نو په همدې سبب زه د پښتو ټولنې څخه یوازی او یوازی د ثقافت ژوند غواړم نه دا چه د هر هر احتیاج لیری ګول مثلا یو سړی به کالی نه اری نو که څوک دا ملامته پر پښتو ټولنه اچوی چه د همدې لڅ انسان د پاره چه پښتون هم دی پښتو ټولنه کالی ولی نه شی تهیه کولای و دې ډول غوښتنې ته زه د پښتو ټولنې د یوه غړی په حیث ځان ملامت نه شم بللای بلکه وایم چه د غوښتنې خاوند لره سوچ پکار دی په همدې شان که څوک د کالو د ګنډلو او د ماشین تهیه د پښتو ټولنې د وظیفو څخه وبولی بیا هم دا خبره نه شم منلای مګر که څوک و غواړی چه پښتو ټولنې د ژبې د پاره په ژبه سره د ژبې په تهذیبی خوا کښې څومره کار کړی دی او په همدې شان ئې د همدې وسیلو په واسطه پر ملیت څومری اثر اچولی دی- دلته د پښتو ټولنې د توان سره و پښتو ټولنې ته

مستحسن فعل

په اقتدار کی رواداری او عفو دومری مستحسن فعل دی لکه په دولت کی اعتدال او میانه روی.

خان محمد ایوب خان

د مسئولیت راجع کېدل یو معقول شی گڼم اوس به راشو ودې خبری ته چه پښتو ټولنی به خپله وظیفه کی تر اوسه څه کړی دی؟

دا پوښتنه که هر سړی کوی ډېره معقوله پوښتنه ده مگر هغه وخت که ځواب هم په ډېره سره سینه واوریدلای شی.

د دې پوښتنی ځواب پښتو ټولنه دا ډول ورته وائی پنځلس کاله دمخه دغه شعور دچاسره ؤ چه پښتو ټولنه دې (یه هغه حال کې چه وجود ئې هم نه درلود) تر استنطاق لاندی ونیسی چه تا څه کړی دی؟

او که نه ؤ دا شعور چا به کومه وسیله څه رنگه پیدا کړ؟

زه ددې پوښتنو ځواب هیڅکله نه وایم او د هر یوه پوښتونکی وخپل قضاوت ته ئې پرې ږدم.

راغلو ودې خبری ته چه پښتو ټولنې دا کار وکړای شو چه خپله ټولنه په هر قیمت د قیمتو نو سره چه وی وساتی.

دلته به څوك دا خبره وکړی چه دځان ساتنه هم یو کار دی او سخت؟

زه وایم چه د پښتو ټولنی سره ډېری نورې ټولنی هم پیدا شوی وې مگر دا چه نن و نوم یادیدلو ته تر هر څه اړی دی داولی؟

دا ځکه چه د ځان موجودیت هم یو قوت غواړی او ډېر قوت مگر دا خبره هم په ډېر جرئت کولای شم چه پښتو ټولنی دخپل موجودیت سره سم خپله وظیفه هم په ډېر ښه شان سرته رسولې ده. ددې ادعا د ثبوت دپاره دا خبره باید زمونږ پوښتونکی ومنی چه پنځلس کاله کاله دمخه چا کولای شو چه په پښتو دې څه ولیکې او که ئې کولای شوای (دلته د پښتو پخوانی دورې لکه د سلیمان ماکو محمد هوتك، روښانیانو او خوشحال خان، رحمان بابا حمید او نوری پخوانی تېری دوری دیادولو په لحاظ بېلی دی) او په یوه اخبار په یوه جریده کی چا څو مضمونه لیدلی ؤ او که ئې نه ؤ لیدلی داولی؟

دا چارې چاو کړې یعنی چا دا د پښتو د ننی تعمیم دوره ومیدان ته راویستله آیا دا ځواب وماته څوك را کولای شی (دلته زه د پښتو ټولنې هغه کارونه او هغه کتابونه چه نن یوه کتابخانه پرې ډکه ده وهغو کسانو ته پرېږدم چه مهربانی وکړی او د پښتو ټولنې پلو رنځی ته راشی او وئې گوری).

انسان

د عجبه خبره ده چه انسان په هره خبره گښی ولی دومره نس پرسته دی سره له دې چه د نس سره مغز هم ور کول شوی دی.

خان محمد ایوب خان

زه خووایم چه داوسنی تعمیم
او دا ډول تعمیم چه نه یوازی
به داخل کی نن لیدل کیږی
بلکه د پښتو لیکوالی د ځمکی
د کړی له شانه (امریکا) بیا
د مځکی ترمخ (هند) پوری
په مصر، ناروی، جرمنی،
انګلستان، روسیه حتی
د نړۍ په هر هر کوټ کی نن
روانه او جاری ده دا کار
چاو کړ؟

پښتو ټولنی که بل چا؟
دا کار پښتو ټولنی په څومره
موده او وخت کی کړی دی؟
دا ځواب یو پټ ځواب دی؟
یه؟ او هرګز یه!

دا حقیقت د لمر پشان
یو څرګند حقیقت دی چه نن
پښتو د پښتو ټولنی په زیار د پښتو
ټولنی په ایثار، د پښتو ټولنی
په قربانۍ، د مهربان حکومت
په پام لرنه د نړۍ په هر هر کوټ
کښی شته او د یوې ژوندۍ
ژبی په څېر ژوندۍ ژبه
معرفی شوی ده او حتی نوره
دنیا دی ته اړه شوی ده چه
د پښتو ادبی او تهذیبی برخه
پخپله ژبه ترجمه کړی او خپلی
کتابخانی برې ښایسته کړی
زه به نور مملکتونه د بل وخت
د پاره پرېږدم صرف د ډېرو
لږو وختونو چه دری میاشتی ئی
لا نه کیږی یوه خبره په
یاده کړم هغه دا چه په اژدی
وخت کښی مونږ ته د سویت
یونین (روسئی) څخه درې
کتابونه راورسیدل چه یو
د لغاتو د کشنری ده په روسی
ژبه د پښتو (٤٠) زره سو چه
لغات ترجمه شوی دی
او بل کتاب زمونږ د لویو شاعرانو
یعنی خوشحال خان خټک،
رحمان بابا، حمید ماشوخیل،
احمد شا بابا او نورو پخوانیو
شاعرانو د اشعارو منتخبه او غوره
برخه ده بل کتاب زمونږ د ملی
کیسو او افسانو دی چه دا برخه
هم د یوه کتاب په ډول چاپ
شوی ده او د فتح خان بریڅی
او رابیا. آدم خان او درخانی
مومن خان او شیرنو او داسی
نور د ملی افسانو او کیسو
پهلوانان پکښی ذکر شوی دی
ښه! دغه معرفی او دغه ذخیره
چاغونډه کړه او څرنګه ئی په
کوم قوت ولیکه او بیا څرنګه
و نوری دنیا ته د معرفی وړ شوله
دا کار پښتو ټولنی کړی دی
که بل چا؟ زه خووایم چه
پښتو ټولنی او د پښتو ټولنی
خدمتګارانو نه بل چا او دا خدمت
د پښتو ټولنی وظیفه وه چه وئی کړه
او نوره به ئې هم د لوی خدای په
توکل کوی مګر دا چه پښتو ټولنه
د ثقافت د ژوندی کولو نه علاوه
د اقتصادی کتابونو د نشر
د تخنیکی کتابونو د خپرونو
او ترجمه کولو د پاره را بولی
او زراعتی آثار هم د دوی په
ذریعه راغوتډول غواړی - زه
پخپله خو دا خبره د هیواد پریوی
ټولنی علاوه پر خپلی وظیفی
یو د روند بار بولم او وایم چه
د زراعتی کتابونو د پاره د زراعت
وزارت شته هغه باید د مکتب
لرلو سره دا کارو کړی په همدې
د شان اقتصادی آثار باید د اقتصاد
وزراعت د خپل نشراتی شعبو
او ځانګو په ذریعه وکړی او په
همدې صورت کارونه باید وو پشل
شی او د پښتو ټولنی څخه د ثقافت
ژوندی کېدل وغواړی چه هغه
د ژبی ژوند د تهذیب تعمیم او د ملیت
رشد دی نه بل شی،

محمد دین ژواک

خواجه رزق الله

چهار بیته

تا وې څنې تورور بل په دا راغله
څه ئې په خاطر ؤ په دا تېره شوه
شنه خالو نه شنه وه په خندا راغله
وې ویشتمه زه په خندا تېره شوه

* * *

مین: وې ویشتمه زه روغ به ترې کله شم
غشی ئې دلاسه ښه تنګی خورمه
روغ به ترېنه هله شم چه ورئی تر برجله شم
توری که په سر د پرنګی خورمه
زه خو به قربان د محبوباله تورور بله شم
شین خال ئې سره دا ننګی خورمه
یو ځلی که خوا په خوا همدا راغله
لاړه اندېښنه د دنیا تېره شوه

* * *

مینه: دز به شمه خوله په خوله غاړه غړی — ورک به دی د ډېر کلونو غم کړمه
نوش کړه منګری لبې می دی جړی — راشه مار خوږ لی چه دې دم کړمه
کړه دیدن مباح په هر ساعت ګړی — زه به دې شیندلی خاطر جم کړمه
بند دې شو سلام نه دې دعا راغله — ځکه اندېښنه دې را چا پېره شوه

ښاغلی خاطر اپرېدی

مالیدی

دځان سینګارولو کښې موسکۍ وی مالیدې
زما د زړه به سولو کښې موسکۍ وې مالیدې
پرون مې څه پرواستا په ګوزارنه وه صنم
زما د زړه ویشتلو کښې موسکۍ وې مالیدې
شاید چه وه دریاده حیرانتیا مې هغه وخت
آئین ته په کتلو کښې موسکۍ وې مالیدې
خپه نه یم په دې که بندئې ستاله سیمې کړم
رقیب ته په ویلو کښې موسکۍ وې مالیدې
شاید چه په رټنه مې پښېمانه وی ګلفام
زما په ژړولو کښې موسکۍ وې مالیدې
لبان دې لکه پاڼې اننګې دې سره ګلونه
سحر چه په دې ګلو کښې موسکۍ وی مالیدې
حبری په غصه کښې کیږی هم دچا «خاطره»
آشنا چه په کنځلو کښې موسکۍ وې مالیدې

مین: کړمه اندیښنې غم سودائی کړمه — زړه دې بې اختیاره رانه وړی دی
مرم ستا د جفا غشو ځائې کړمه — هوش وعقل تارا ځنی وړی دی
خیر د دیدن غواړم ګدائې کړمه — پروت مې په ګردن ستا د عشق پړی دی
بیا مې په غوږ ستا د غوږ صدا راغله — ځکه مې دا ستا جفا بیا هېره شوه

* * *

مینه: مکړه اندیښنه خولګۍ به در کړمه — در به کړمه خوله په دواړه لور اشنا
مخ به در ښکاره په څه هنر کړمه — مشی ملامت د کلی کور اشنا
زه به در په خولې دزنی سر کړمه — ته مې ئی د دواړو ستر ګو تور اشنا
خلکه رزق الله د زړه مدعا راغله — لاس تر غاړه د خواجه چا پېره شوه



دبنا غلی (ثابت) پلټنه

مهراب او زال زر

دهر ملت دتېرو زمانو اوپخوانیو وختونو حالات او حوادث او دهغوی دسترو اشخاصو بیانونه اوسر گذشتونه دهغوی له تاریخی منابعو څخه څرگندیږي، او دهر قوم هرحیثیت او عمومی شان دهغوی دتاریخی وثایقو له پلټنو څخه استنباط کیدای شی. او دا هم منلې شوې خبره ده چه دتاریخ پلټنی دقوم دوینېدو او ژوندانه ښه موجب کیدای شی.

مونږ دتاریخ له مخی څخه غواړو چه تر میلاد دمخه دد وو سترو اشخاصو ځینی حالات چه دپښتنو په تاریخ کښې لوړ مقام لری ښاغلو لوستونکو ته وړاندی کړو.

په پخوا زمانو کښی زمونږ دهیرمند دسیند پرغاړه د (بست) په ښار کښی چه دساکستای (سیستان) دولایت مرکز او په هغو وختو کښی دپښتونخوا دپاچاهانو دسلطنت پایتخت ؤ، زمونږ یو پاچا اوستر تولاك پاچاهی کوله چه دهغه پاچا نوم (مهراب) ؤ، په همدې شان دهغه پاچا وزیر یا نائب الحکومه (زال زر - یا داستان سام) نومید.

مهراب: دغه مهراب نومی پاچا چه په پخوانو زمانو کښی دپښتونخوا پاچاؤ، د دهسلطنت مرکز دسیستان په ولایت او بست په ښار کښی ؤ، دنومورې پاچا د نسب سلسله دغور سلاطینو ته رسیږی چه په دغه سلسله کی دپښتونخوا پخوانی ستر تولاك سهاك ؤ لکه چه فردوسی وایی:

پوخ سړی

پخته کاره سړی هغه نه دی چه پخته کارانه نصیحت کولای شی

بلکه هغه دی چه نصحت اوریدلای شی .

خان محمد ایوب خان

یکی پادشاه بود (مهراب) نام — زبردست و با گنج و گسترده کام

ببالا بکردار آزاد سرو — برخ چون بهار و برفتن تذرو

دل بخردان داشت مغز ردان — دو کتف یلان و هش مؤبدان

زضحاک تازی گهر داشتی — ز کابل همه بوم برداشتی

زدینار و یاقوت و مشک عبیر — ز دیبای زربفت و خز و حریر

ابا گنج و اسبان آراسته — غلامان و هر گونه‌ای خواسته

یعنی لکه چه فردوسی بیان کړی دی چه دنوموړی مهراب نومی ټولواک د نسب سلسله ضحاک ته رسیده او ضحاک همهغه د پښتنو ستر پخوانی ټولواک دی چه په بامیانو کښی ئې د سلطنت مرکزؤ، او د شرق له خوا (خراسان) څخه یی پر جمشید باندی یرغل کړی او هغه ئې له خپله تخته کوز کړ، یعنی نوموړی شخص د پښتنو له ستری شاهی کورنۍ څخه ؤ چه له پخوانیو پیړیو څخه د پښتنو نخوا سلطنت او زمامداری د دوی په کورنۍ کښی وه. نوموړی د زابل په خوا وشا کښی باچا او تر کابل پوری د هند کش جنوبی خوا وی ټولی دده په قلمرو کښی او دده تر باچاهۍ لاندی وی، او لکه چه مورخین وایی دا مهراب باچا د خوراستر شوکت اولویی د بدبی او اوی قوت خاوند ؤ، ده ډیر قوی سلطنت لاره. پخپله مهراب هم پوځای وایی:

کنم زنده آئین ضحاک را — بمی مشک سارا کنم خاک را

بسازم کنون من ز بهرش سلیح — همی گفت چونین بروی مزیح

پر از خنده گشته لب زال و سام — ز گفتار مهراب و دلشاد کام

د نوموړی مهراب په عصر کی د ماوراءالنهر د تورکانو له خوا پر پښتونخوا باندی کلک یرغلونه وشول، خو د مهراب د ښه تدبیر، پاخه سیاست او زیات قوت او شوکت په اثر بیرته وشړل شول او په نورو جګړو کښی یی هم بریالیتوب په برخه شوی دی چه خپل آینده نسل ته یی ښه غوره نوم د یادګار په توګه پرې ایښی دی.

دوهم سړی زال زردی دې سړی هم د نوموړی ټولواك یعنی مهراب په عصر کښی ژوند کاوه، دا شخص د پښتو نخوا د هغه عصر یو ستر پالوان او غښتلې سړی ؤ، او د هغه وخت د جګړو سالار او د جګړو مشر ؤ، چه د هغه وخت په جګړو کښې به هر کله بریالی او سوبمن ؤ څرنګه چه په هغه وخت کی له ماوراءالنهر له خوا د دوو ستر و جګړی منصبدارانو په قوماندانۍ ډیری لښکری پښتو نخوا او دهیرمند غاړی ته چه د مهراب مرکز ؤ د جګړی په قصد راغلی وی، په دغه وخت کی نوموړی زال زر په کابل کښی ؤ، نو مهراب چه په بست کی باچا ؤ، په بیړه ده ته استازی واستاوه او هغه ئی په ډیر تلوار راوغوښت، زال زر ته چه دا احوال و رسید نو دی هم په ډیره بیړه راسپورشو او د سیستان مرکز ته ئی ځان راورساوه او د مهراب له نظر یی سره سم یی پر هغو یرغل کوونکو لښکرو باندی حمله وکړه چه ډیر ئی ورڅخه ووژل او بریالیتوب د پښتنو د لښکرو په برخه شو؛ او پښتنو ته ئی د هغه وخت په تاریخ کښې خپل غوره نوم د یادګار په توګه پاته شوی دی لکه چه د کابل مجلی په (۲) ګڼه کی دا موضوع خپره شوې ده او نوموړی زال زرد (داستان سام) او کله د سام په لقب هم په کتابو کی یاد شوی دی، د سام کلمه چه د غور د پاچاهانو یو نسبی لقب دی نو ګمان کیږی چه نوموړی زال به هم له دغی سلسلی څخه و او هم دغی سلطنتی کورنۍ ته به یی د نسب سلسله رسېدلی وی، او له ټولواك مهراب سره به په نسب کښې ګډ وی.

له مورخینو د لیکنو له مخی څرګندیږی چه زال زرد کابل والی ؤ، او له مهراب سره یی رابطه لرله، نو یا دا چه پخپله مستقیماً د هغه له خوا په کابل کښې والی ؤ، او یا د کابل حکومت په مستقل ډول سره د زال زر په لاس کښی ؤ، او د زابل له حکومت سره ئی اتحاد درلود، له ځینو لیکنو څخه څرګندیږی چه په وروستو وختو کښی یی په زابل او سیستان کښی د هغه وخت د حکومت د وزارت اداری چاری په لاس کښی وې. او په دغه مهال کښی چه ده له ملت سره تماس درلود او د حکومت د ملی چارو اداره ئی کوله او په خورا عدالت او انصاف سره ئې د وطن د بهبود او ترقۍ او د ملت د آسوده ګلوۍ او خوشالۍ د پاره خورا ښه خدمتونه کړی دی چه له ده څخه وروسته هم ځینو علماؤ د ده د عدالت او ښو کارو ستاینه کړې ده.

لکه چه زمونږ د سیستات د سیمی یو ستر ادیب علامه (فرخی) چه غرنو یانو په اولو وختو کی ئې ژوندون کاوه هم د (زال زر) نوم په خورا ښه شان سره یاد کړی او د هغه

ښاغلی نادرخان بزمی

دپسرلی سندره

لاړه عندلیبه د سپیره سحر با دو نه دی لاړه دپسرلی دغمه سوی فر با دونه دی
گوره دنسیم سره دسروې خرامو نه دې گرځه په گلا بودغو تو کړه هر کلی
رابه شی پسرلی په گلو را به شی پسر لی

چر ته به لاله درته داغو نه د خیگر ښیی چر ته په ژړاژړا بو را به تو ر بشر ښیی
چر ته نمر پرست به اندیښنی په ماز یگر شیی چر ته میلمستیا به د نسیم کړی چمبیلی
رابه شی پسر لی په گلو را به شی پسر لی

و گوره تنگی پانی چاپیره تو کېدلی دی هغه دی په پوله دلاله غوټی خند لی دی
را یه عندلیبه زما خوښی ستاغز لی دی غم دډډې لاندې کړه بز می راغی پسر لی
را به شی پسرلی په گلو را به شی پسر لی

دښې اداري او عدالت ستاینه یی کړې ده او دشه مشرق یعنی محمود غزنوی ښیگڼی پرهغه قیاسوی او دزال له ښیگڼو سره یې تشبیه کوی چه دسلطان محمود غزنوی دوزیر خواجه ابوعلی حسن میمندی عدالت او ښیگڼه چه دسیستان چاری ئې په لاس کی وې بیانوی او وایی چه لکه دزال زرغوندی عدالت ئې چلو لی دی.

فرخی وایی:

چون شه مشرق وزارت را بخواجه بازخواند
بیشتر شغلی گرفت ازشغل خواجه بیشتر
عالمان را بازخواند ومردمان را بار داد
شوی بازن گشت وزن با شوی ومادر با پسر
خانها آباد گشت و کاخها بر پای شد
باخضر شد بار دیگر باغهای بی خضر
روزگار سیستان را بانیکوئی عدل او
باز نشناسم همی ازروزگار (زال زر)
ازولایت سلطان سیستان بر گوشه ایست
نیست از انصاف آن ازعدل او نابهرور

بل‌ځای‌هم د(سام) او(زر) نومونه یادوی او دهغې زمانې اوضاع ستایی، وایی:

سیستان خانه مردان جهانست وبد واست

شرف خانه مردان جهان تا محشر

(نیمروز) امروز از خواجه واز گرهر او

بیش از آن دارد (سام یل ور ستم زر)

او په‌دې‌ضمن کی‌د(سها کزیا نو) نوم‌هم نوموری ادیب یاد کړی‌دی:

وائی:

شهان دگر بازمانده‌بدو بدادندچون (ساکزیان) سیستان

نو له دې پور نیو خبر و تخه خر کند بزی چه زال زر د سیستان یه مرکز کی دوزارت او ملت چاری هم یه لاس کی لرلې، لکه چه فرخي وایی چه یه دې وخت کښې چه سلطان محمود غزنوی د سیستان چاری وخپل‌وزیر خواجه حسن‌میمندی ته‌سپارلی وې او دهغه‌له‌خوا یه‌دغه‌سیمه کی ښیګڼه او عدالت‌جاری‌ؤ؛ نوفرخی‌دهغه عدالت ستایلی‌دی او دهغه کارونه ئې دزال زر پر عدالت او کارو باندی قیاس کړی‌دی، نوځر کندیزی‌چه‌زال‌زرهم یه‌هغه‌زمانه کی لکه د سلطان محمود وزیر یه‌شان‌دخلکو چاری یه‌لاس کی لرلې او دهغه رخت زیر ؤ او یه ښه‌انصاف او عدالت‌یی اجرا کړی‌دی‌چه‌وروستایی‌ښه نوم‌پری‌ایښی‌دی.

زال زر، چه یه یخو او ختو کښې د ښتنو یو ستر شخص او د عالی شخصیت خاوند ؤاو دښتنو یو پیاوړی پالوان او یوجګړن‌سړی ؤ، نو دهغه‌عصر ښتون تولواك مهراب‌خپله‌رودابه‌نومې لور هغه ته یه‌نکاح‌ورکړې وه، چه یه‌نتیجه کښې د مهراب‌باچا ازال زریه‌منځ کښې خپلوی او دوستي نوره‌هم ډیره ټینګه‌شوه، او د مهراب زور او قوه نوره هم زیاته اویوپه‌دوه شوه.

او دوی دواړو ددغې‌خپلوی له کبله چه‌زال زرد تولواك مهراب زوم‌شو، د ایران دهغه عصر باچاته چه «منوچهر» نومیداو یه‌پخوانو آریائی لیکنو کښې د«منوچترا» یه نوم یادشوی‌دی، تأثراو خپګان پیداشو، یعنی کله چه د ایران دهغه وخت باچامنوچهر دمهراب‌اوزال‌زر له داسی خپلوی‌څخه‌خبرشو نوډیر یه‌قهرا و غضب‌شو، او زیات تشویش او ویره یه‌دماغ کښی وریپیدا شوه، چه‌دهغې سودا او تشویش یه‌اثریې‌خپل دسلطنت‌اراکین‌را وغوښتل‌او له هغوسره‌یې یه‌دې‌باب کښې خبری اتری اومرکه وکړه چه‌سلطان مهراب دښتنو نخواباچا خپله لورد کابل امیر زال زر ته

ور کړې ده او له دې لارې د دوی دوا ـ و دوستی او اتحاد ډېر ټینګ شو، دې پاچا و دوی ته ویل چه مهراب دستر باچا «سهاك» (ضحاك) له نسل او خوځات څخه دی، او دده نیکه سهاك یو وخت دایران هیواد له جمشید څخه نیولی ؤ، او ویره کیږی چه د مهراب په دماغ کی دخپل نیکه کارنامی خطور وکړی او د زال زر په اتفاق پر ایران باندی بیا یرغلونه وکړی او دایران باچاهی هم لکه دخپل نیکه په شان لاس ته ورولی.

ده وویل ما ته ډېره ویره را پیدا شوې ده، نو باید چه په دې باب کښی غوره تدبیرونه ونیسو او د دې خطری دمخی نیولو دپاره چاره وسنجوو!

د دې مطلب خلص د سلطان محمود غزنوی د عصر ستر شاعر ایرانی طوسی او غوره رښتیانی مورخ علامه فردوسی په لاندی ډول سره بیان کړی دی.

دمنوچهر ویره:

فردوسی وائي:

پس آگاهی به شاه بزرگ — ز «مهراب» و «دستان سام» سترگ
زپیوند مهراب وازمهر «زال» — وزآن هر دو آزادهٔ با همال
«منوچهر» ازین کار پر درد شد — زمهراب ودستان پر آزرده شد
سخن رفت هر گوشه با مؤبدان — به پیش سر افراز شاه ردان
چنین گفت با بخرردان شهریار — که بر ما شود زین دژم روزگار
چه ایران زچنگال شیر و پلنگ — برون آوریدم برای و بجنگ
فریدون زضحاك گیتی بشست — بترسم که مهراب زان تخم رست
نباید کنون خیرهٔ عشق «زال» — نهال سر افگنده گردد همال
چو از وخت مهراب واز پور «سام» — بر آید یکی تیغ تیز از نیام
بیکسو نه از گوهر ما بود — چو تریاك با زهر همتا بود
اگر تاب گیرد سوی مادرش — ز گفت بد آکنده گردد سرش
کند شهر ایران پر آشوب و رنج — بدو باز گردد مگر تاج و گنج
بسان نیا اژدها کی ضحاك — ز تخم کیانی کند بوم پاك
بگوئید تا این چه رای آورم — که این داستان را بجای آورم
نباید که این کار گردد دراز — بخم اندر آرد سر سرفراز

کنون این سخن را چه پاسخ دهید * بکوشید تا رای فرخ نهید
همه مؤبدان آفرین خواندند * وراخسروی پاک دین خواندند
بگفتند کز ما تو داناتری * ببایستها بر توانا تری

څرنګه چه دنو موړی منو چهر دایران دهغه عصر دپاچا خطره او ویره ډیره زیاته شوې وه نو ددربار لویانو ده ته تسلی ورکړه او دده ډارئې په داسې توګه زائل او لرې کړ چه دمنو چهر ددربار ستر واشخاصو دده او دمهراب او زال زر په منځ کښې سوله وکړه، له هغو څخه ئې دعدم تعرض ډاډ حاصل کړ، او له دغې لارې ئې د منو چهر له دماغ څخه ویره او خطره لرې کړه چه څو دهغه په خاطر و کښې آرامی راغله

دپورتنۍ موضوع دشرح کولو څخه یواځنی مقصد دادی چه په هغه عصر کښې چه منو چهر (منو چترا) په ایران کښې پاچاؤ په هغه زمانه کښې زمونږ دپښتو نخوا ستر ټولواک «نوموړی مهراب ؤ» چه د «بست» په ښار کښې ئې پاچاهی کوله هغه هم داسې یو پاچا او دداسې شوکت او دبدبې خاوند ؤ چه منوچهر په ایران کښې ور څخه په ویره او ترس کښې ؤ.

ځینو اشخاصو بې له کوم تحقیق او غور څخه او یا عمداً په ځینو مواردو کښې لیکلی دی: چه منو چهر (منوچترا) د پښتو نخوا پاچاؤ او دلته په افغانستان کښې ئې پاچاهی کوله، مګر داخبره صحیح نه معلومیږی، چه له تاریخی منابعو او موثوقو اسنادو څخه ثابته شوې ده چه زمونږ پخوانی ستر ټولواک (سهاک) ایران ته ورغلی او دهغو خلکو په موافقه او خوښه ئې جمشید محو کړ دهغه ځای ټولواکی یې دپښتنو په امپرا طوری کښې داخله کړه او زیاته موده هلته پاچا ؤ. او داسې یوه باشوکته دوره ئې هلته تېره کړې ده چه په وروستیو زمانو کښې دنوموړی جمشید ځوځات منو چهر دسهاک له ځوځات مهراب څخه بیا هم په ډار او خطره کښې ؤ باید چه دنوی زمانی مورخین له داسې مثبتو حقائقو څخه سترګې پټې نکړی، او داسې هم باید و نه شی چه څوک مونږ په اشتباه او خطا کښې وغورزوی چه ځینې حدسیات زمونږ په سترګو کې دحقیقت په بڼه ښکاره کړی او باید مونږ ډاډ او باور ولرو چه زمونږ پخوانی تاریخ هم ډیر روښانه او دوباړ او مباهات وړ دی!!

پخوا تر دې چه پر متونو وږغیږو یا دسبکو پر ویش او څرنګوالی څه ووایو دا به بیځایه نه وی چه د ژبی د پیدا ینښت او ماهیت په باب کښی او دا چه لفظ او کلمه چه د ژبی اساس ږ دی څرنګه پیدا کیږی او څرنګه تحول او بدلون کوی یا په بل عبارت څرنګه مخ پر لوړ یا ځوړځی او په پای کښی دسبکو د پیدا ینښت او د ویش سبب ګرزی څه بیان و کو تر څو چه زموږ مطلب آسانه او مقصد ته ژر او اساسی ورسیږو.

دژبی تعریف:

هغه شی چه انسان ئې له نورو سا کښو څخه بیل کړی او پر نورو حیواناتو ئې مزیت او غوره والی ور کړی دی ژبه ده ژبه دانسان دژوندیو مهم سبب او غوره آله ده چه په دې آلې سره دافهام او تفهیم په واسطه د ژوندانه ټولی اړی او ماندی پوره کوی او خپل افکار او خیالات یعنی هغه څه چه د دوی په زړو کښی ور ګرزی بیانوی او یو بل باندی پوهوی او د ښاغلی امین الله «زمریالی»

متون

یاد سبکوویش

(۱)

افادې او استفادې و ډګر ته ئې را باسی، دا طبیعی نعمت ګر دو انسانانو ته که مدنی دې که وحشی، ښار وال دی که کلیوال رسیدلی او د بشر ټولی راز راز څانګی ئې دانسان په کلمه کښی راغونډی کړی دی.

ژبه دوې معناوې لری یا په بل عبارت پر دوو شیانو د ژبی تعبیر کیږی - یوه هغه په خوله کښی دغوښی تو ته ده چه ژبه ورته ویله کیږی- دوهم ګریدو او خبرو ته هم ژبه وائی مثلا د عربو ګریدو ته عربی ژبه او دفارسیانو خبرو ته فارسی ژبه او د پښتنو وینا ته د پښتو ژبه وایو، او دا دوهم تعبیر یا معنی دژبی چه مطلب له خبرو څخه دی هم پر لمړی اساس بنا کیږی ځکه، هغه هم دغوښینی آلې حرکت او خوځیده دی چه موږ خبری ورته وایو او د لمړی معنی په لحاظ ئی ژبه بولو.

دوهمه معنی ژبه یا خبری بیله یوه مقیده آواز څخه بل شی نه دی هر کله چه یو مقید اواز په مخصوصو شرایطو سره زموږ وغوږ وته راورسیږی موږ خبری ورته وایو او یو مطلب ځنی اخلو او که چیری تا کلی شوی قید او شرط په آواز کښی ته وی نو هغه آواز اوږغ به مهمل او بی مطلبه وی او د خبرو یا ژبی اطلاق نه پری کیږی،

که دا مطلب په اسانه عبارت ادا کړو نو داسی باید ووایو چه زموږ خبری له مختلفو اوازو څخه مرکبی دی او د یوه مطلب دادا کولو دپاره څو مختلف ږغونه سره یو ځای کیږی مثلا (اسلم راغی) په دې خبره یا مطلب کښی څو مختلف ږغونه لکه (ا،س،ل،م ر،ا،ع،ی) زموږ دخولی او ستونی څخه را وختل تر څو چه د (اسلم راغی) مطلب ځنی واخستل شو نو دې مختلفو ږغو ته چه په یوه ژبه کښی دې دهغی ژبی الفبا یا توری وائې او دغه دڅو تورو

یوځای کیده چه په معین مطلب او معنی دلالت وکی کلمه بولی مثلا احمد، ولاړ، راغی، ډېر، دیرش او داسی نور او دڅو کلمو یوځای کیدونه چه پرله پسی له خولې څخه را وزی کلام یاوینا ویل کیږی.

یوله ژب پوهانو څخه دا پورته مطلب داسی خلاصه کوی او وائی چه: «ژبه دخیال دڅرګندولو دپاره داسی وسیله ده چه دآوازو په لړ کښی پرله پسی ظاهر یږی او دا چو تېده (ظاهر یده) تقریر یادالفاظو لړ یا عبارت بولی او که په شاعرانه الفاظو دا مطلب اداشی باید داسی ووا یو چه ژبه (بیان) دیوه هوا پیما په څیر زموږ دخیال پر الوتکه سپر یږی او دزړه له سر حد څخه (ویش) غوږ وته او بیا دارو یدونکی پر دماغ را کښته کیږی یا په ېل عبارت څنګه چه تصویر او تحریر دقلم کاردی او په ستر ګو لیدل کیږی همدا رنګه تقریر زموږ دفکرو ژښی تصویر دی چه دآواز قلم ئی څېره سازوی او دهوا پر مخ صفحه ئی رسم کوی او واقعی بڼه، کار، مقام، یعنی ټول حال او احوال دغوږ وله لاری وموږ ته را رسوی»

نوی کال

دنوی کال نوی ورځی خپل نوروزی مراسم د سپین غره پرسرو نیول نو ځکه دشرق له خوا دلمر رڼو وړانګو هم د سپینو مرغانو دوزرو نوڅو کی دبخت اوطالع په هیله ټینګی کړلې او په ډېره چټکۍ سره ئې ددې غره ترڅو کی پوری ځان را ورساوه.

داوړانګې راورسېدې او دسپین غره په لمنو کی خورې ورې شولې- حرارت پیداشو، ګرمی شوله، دسپینو واورو څخه تاوونه پورته شول- دفضا مخ هم همدې تاو ډک کړ.

دتالندی دربی شو- ځکه دې خوشحالۍ وتوپونو ته ضرورت پېښ در لود.

بر ېښنا وې شولې- د سرې زرغونې (قوس قزح) تناوونه هم هر پلو کش شول

ژواک:

دامضمون د کابل راد یو دهواد نامی داقتراح دپاره لیکل شوی و

دزانو کتارونه هم یو پر بل اوښتل- زر کوددې ملی اختر دپاره پخوالا په مښو کولبسر ېنونه وهلی وو- پښې ئې سرې کړی وې- خندل ئې مراسم دلته شروع شول او اشارې ئې د نجدی و خواته وې هلته هم سپین بیرغونه ودر ېدل دجم جامونه دهرچا په لاس کی وو.

مستۍ وې- خوښۍ وې- دسوما په کیف دهرچا سترګی سرې وې.

سرودونه ویل کېده- آریائی زلمیان هر پلو لیدل کېدل- دخوښۍ اورونه بل شول،

دهمدې اورونو د منځ څخه یو بڅر کی وغورځېد پر شاهی تاج و موښت هلته و ځلېد په بر ېښ ئې شروع وکړه- دابر ېښ وار په وار ډېر ېده نور بڅری ځینی وغورځېدل- هر پلو اوهری خواته.

دبامیان، غور، قندهار، غزنی وخواته حتی دشرق څخه دغرب پرلور هم روان شول.

هلته او دلته ولاړل مګر څه موده وروسته تر ستر ګو نهام شول .

وروسته - څه وخت وروسته په هماغو بڅرو پسی لټون شروع شو !

دهر چا ستر ګی د هماغو بڅرو دپاره څلور شوې مګر هېچا ونه لیدل .

نه پوهېږم څه شول !

داپوښتنه وروسته تر هغه دکسې دغره په لمن کی یو سپین ږیری بوډا دنیا زپه ډول وکړه مګر ځواب ئې دهېچا له خوا ونه ویل شو .

هغه سپین ږیری بوډا دهمدې لټون دپاره دډېر وزامنو ضرورت احساس کړ او دا جمله ئی له خولی نه وو تله :

« لویه خدایه! لویه خدایه! داوګړی ډېر کې خدایه » دادعاقبو له شوله وګړی ډېر شول مګر هغه بڅر کی لا تراوسه دهمدی وګړو په ستر ګو شوی نه دی .

ځینی وائی : « دابڅری دبوعلی پر مغزو ولوېدل » په همدې شان ئې نور دسوری شیرشاه احمد شاه ، خوشحال او ایمل دتورو پرڅو کو لوېدلی

اسکار وایلد

دنرګس مرګ

چه نرګس مرشو، دډاک کوکیو دچینی له رڼو او بو څخه مرسته وغوښتله چه دغم اونول دوړی ئې له مخه پاکې کړې چینی وویل : که زما تولی او به اوښکی شوی وای ، او له ستر ګو نه مې ېهیدلی وای ، بیا هم دګران نارسیس په ژړامی زړه نه سړیده ، کوکیو په تصدیق سرونه وخوځول او وئې ویل « ښکلې نرګس دومره پیمخی ؤ چه دا انګولا او ژړالا هم لږه ده ، » چینه په مستۍ راغله او پوښتنه ئی وکړه رښتیا! څومره ښکلی ؤ؟

ګلونو په تعجب او حیرانۍ سره وویل ، « له مونږ نه ئې ښکلا او حسن باید تا ته ډېر معلوم وی نرګس به ستا په رڼو او پاکو او بو کښی خپل ډول سېنګار جوړاوه نو بیا به ئې خپله څېره او بڼه ستایله .

چینې دلږ غور نه وروسته وویل هو! په ما باندې نرګس ګران ؤ ځکه ، چه کله به ئی مخ زما پرا و بو باندې راټیټ کړنو ما به خپل حسن او ښکلا دهغه په پاکو ستر ګو کښی ستایله ، . . . . »

مترجم جلوه

بولی څوك لا وائی د پښتون سید جمال الدین پر احساس او دغیب السان عبدالرحمن پرژبه وموښتل

داډول خبری ډېری کېږی ملګری دآرین د کهول ستر ګی نن دپښتون وبورجل ته کېږې دی دا کهول دلټون وړدې او دابڅر کی همدلته دی نه بل ځای .

وئې لټوی ء!!!!

اې زلمو !او ځوانانو!! دلته دی - او په همدې ځای کی نن دکال اوله روځ ده او دهمدې بڅرو « ورکه » همدلته شوې ده دابڅری بل ځای نشته - په غرب کی نه دې دغرب نه هغی خوا ته هم نشته - دلته دی او دپښتون په کهول کی ځکه دهمدې ځای سره له اولی ورځی نه اشنا شوی دی او دموندلو ځای ئی هم دهمدې ځوانانو احساس دی احساس !!

ښاغلی محمد گل کجل

دپسرلی هنگامه

وخت دپسرلی دی زرغون شوی مځکی غرونه دی
نوې شوه هوا نوی شو لمر نوی بادونه دی
مځکه در عدو په لوړو چیغو باندی وېښه شوه
شین بخمل ئی واغوست پری دگلو کتارونه دی
وږم دی لونلی پښتنی غرونه دښتونو کی
ته واچه راغلی له ختنه کاروانونه دی
سوراورلګېدلی په باغونو اورغونو کی
هرلور دچونو بورا گانو پرې تاختونه دی
وار دظلم تېرشو وخت دعیش اوخوشالۍ راغی
جشن تېارشوی پورته شوی سره توغونه دی
دلته په شنه بڼ کی بلبلان نغمه خوانی کوی
هلته شنو کړنګو کې دزرکو آوازونه دی
دلته بزگران اخته دی بیا په کښت و کار باندی
هلته په غورزنګ او په مستۍ کې آبشارونه دې
تېردی وخت دخوب او تنبلۍ اوس وخت د کار راغی
ونو او ځنګلو کې د مرغانو خطابونه دی
بیا خړی وریځی شوې خپرې په پښتنې دښتو
هرطرف شیندل کادرگو هر ئې سوغاتونه دی
غم مایوسی نشته اوس په هر شی کې لذت وینم
وخت عیش دعشرت دی نن هرځای کې نشاطونه دی
راغې تحول او ارتقا په موجوداتو کې
پاتی یو پښتون دی لا پرې هغه خزانونه دی
وائې سورغټول په تعجب او په خندا کې دا
وگورئ بهار کې دپښتون خوار څه حالونه دی
نوی کړلې مېنی انسانانو او مرغانو تن
پاته پخپل حال د پښتنو زاړه برجونه دی
واخلئ دعبرت درس پښتنو له نو بهار ځینی
غوره نوی ژوند کړئ د (کجل) دافریادونه دی

ښاغلی خان غازی کابلی دهند
دپښتون جرګې سکرتر چه یو ډېر
دردمند او په پښتو مین پښتون
دی، مونږ دده داښکلی مضمون
په ډېره خوښۍ خپروو:

په رام پور کښې

(رضا) نومی تابخانه یا دپښتو ژبې مذهبی، علمی،
ادبی او سیاسی مرغلوي

دپښتنو دنامتو مشر او انقلابی
شاعر خوشحال خټک دلمسی
کاظم خان شیدا د پښتو یو
دیوان په دې ورځو کښې
د کابل دپښتو ټولنی له خوا
چاپ او خپور شوی دی دغه
دیوان شیدا په خپله په رام
پور کښې مرتب کړی ؤ شیدا
دروهیلیانو په دوره کښې په رام
پور او روهیلکنډ کښې یو
نامتو او ښکاره ممتاز پښتون ؤ
لکه چه امیر مینائی دی په
(انتخاب یادګار) او احمد علی
شوق په تذکره (کاملان
رام پور) کښې په ډېرو جګو
الفاظو یاد کړی دی او دا ډول
ئی لیکلی دی چه دده دوفات
نېټه د پښتو ددې لاندې نظم
څخه معلومېږی.

دشیدا په آشیان جهان تریخ شو
د کباب غوندې کون او مکان تریخ شو
درست بدن ئې ګویا زړه دی په سینه کښې
«دل نظر» د کاظم خان د مرګ تاریخ شو

له (دل نظر) څخه (۱۱۹٤)
هجری کال معلومېږی چه
غالباً دغه دشیدا دوفات نېټه
ده د احمد علی شوق د تذکرهٔ
کاملان رام پور (۳۳٦ مخ)
زه په دې لړ کښې دې مینې
مجبور کړم چه په دې (لیار کښې
پوره پلټنه وکړم نو هغه ؤ چه
درام پور تګ ته اړ شوم او
دمولانا مفتی عتیق الرحمن
عثمانی په مهربانۍ دډیلی نه
رامپور ته ولاړم او په رام پور کښې
مې دمولانا امتیاز علی خان
عرشی سره ملاقات
وشو ښاغلی عرشی برسېره
پر دې چه یو لوی عالم دی
دعالمانو سره هم ډېره مینه لری
او ډېر ننګیالی او حساس
پښتون هم دی دمولانا عرشی
پلار به په پښتو خبرې کولې
لیکن په خپله عرشی صاحب په
خپله ملی ژبه پښتو خبرې نه
شی کولی. په هرحال له دې
کبله چه عرشی صاحب په خټه
پښتون دی نو د (رضا) نومی
کتب خانې منتظم دی، ده د پښتو
ټول علمی او ادبی کتابونه
ماته ښکاره کړل.

درحمان بابا مصور دیوان:

په دغو کتابونو کښې مې له
ټولو لومړی درحمان بابا په
قلمی دیوان سترګې خوږې
شوې، دغه دیوان (٤٧٠) مخه
دی او په آخر کښې ئې
دا عبارت لیکلی دی (قدفرع
تسوید کتاب دیوان عبدالرحمن
فی الشهر المبارک رمضان
یوم الخمیس فی سنه ۱۲۱۹ ه
درخطهٔ کشمیر بحسب فرمایش
بیع شده مبلغ پانزده تومان
کشمیر با هتمام فضیلت
و کمالت دستګاه ملا محمد
خلیفه بدستخط محمدشاه بلخی

ښاغلی خان غازی، کابلی دهند د پښتون چرګې سکرتر

بوقت نماز پیشین تحریر یافت از کتابخانه شهزاده ابراهیم ولد شاه درانی، « شاه زمان غازی » .

د رحمان بابا د دیوان دغه نسخه په ډیر ښکلی خط لیکل شوی او پر حاشیو ئې ډیره ښکلی طلا کاری شوې ده .

د پورته لیک په اساس مو نږدا ویلی شو چه درحمان بابا د دیوان دغه نسخه د پښتنو د درانی یا چاها نوله کتب خانې څخه درام پور (رضا) نومی کتابخانې ته راز سید لې ده چه په حقیقت کښې یو ډیره قیمتی او بې ساری نسخه ده درحمان بابا له دغه مصور دیوان څخه پرته د رحمان بابا د دیوان نورې ډیری قلمی نسخې هم شته مګر مصورې نه دی.

په دې ځای کښې باید دا حقیقت هم څرګند کړی شی چه د مصور څخه دا مطلب نه دی چه په دې کښې د رحمان بابا تصویر دی بلکه په دغه دیوان کښې د هر یو غزل مطلب د تصویر په شکل کښې ښودل شوی دی.

د خوشحال خان خټک دیوانونه: په دې کتابخانه کښې د پښتنو د ملی مشر او د پښتو د انقلابی شاعر خوشحال خان بابا د پښتو د دیوان دوه قلمي نسخې شته دی دغه دیوانونه د فلس کپ کاغذ په اندازه په یو کاغذ باندی لیکل شوی دی چه لومړی برخه ئې (٦٠٦) مخونه دې او دوهمه برخه ئې (٧٥٨) مخونه او په آخر کښې ئې دا عبارت لیکلی دی چه له دغه عبارت څخه د دغه د دیوان تاریخ هم معلومیږی.

(تمت تمام شد دیوان خوشحال خان خټک بزبان پښتو بتاریخ دهم شهر رمضان روز سه شنبه وقت چاشت در سرای اکوره بفرموده خان والا شان سموالمکان معدن جود و احسان صاحب قبله خدا یگان افضل خان جیئو تحریر یافت، بخط عبدالضعیف الحنف محمدسلیم سیالکوتی سنه ١١٠٨ ه)

د پورته لیک څخه څرګندیږی چه دغه دواړه دیوانونه د خان والاشان په فرمایش محمدسلیم سیالکوتی لیکلی دی په دې لړ کښې باید دا حقیقت هم څرګند کړی شی چه افضل خان د خوشحال بابا لمسې دی چه د پښتو ژبې د دیو بې ساری شاعر د خوشحال خان بابا د جانشین اشرف خان هجری خلف الرشید ؤ.

له دغو پورته معلوماتو څخه دا حقیقت څرګندیږی چه دغه نسخې به څومره صحیح او مکملې او مهمې وی.

د کاظم خان شیدا دوه ضخیم دیوانونه:

کاظم خان شیدا د خوشحال بابا کړوسی دی دده د پښتو د دیوان دوه قلمی نسخې هم په (رضا) نومي کتابخانه کښې شته

دده د دیوان ددو همې برخې په
آخر کښې داعبارت لیکلی دی:
(تمت تمام د یوان شیدا
تصنیف خان والا شان مظهر
لطف و احسان خا تم زمان
خانزاده کاظم خان شیدا
سلمه الرحمن بتاریخ بیست و
دوهم شهرجمادی الثانی ۱۲۹۲
هجری بخط بنده احقر العباد
فیض علی ولدقایم بیك متوطن
شاه جهان آباد (یعنی دهلی
از ناقل) بپاس خاطراخوندزاده
میان غلام حیدر سلمه الله تحریر
یافت .

درحمان بابا خوشحال خان بابا
او کاظم خان شیدا د قلمی
دیوانونو څخه پرته په رضا
کتابخانه کښې د دولت خان
او میرزا خان قلمی پښتو
دیوانونه هم شته .

سر بیره پر دې په دغه
کتابخانه کښې د پښتو افسانې
او مذهبی او د فقهی کتابونه
هم د پرزیات شته دی .

په پښتو د قرآن کریم تفسیر:
د قرآن کریم پښتو تفسیر په
دریو جلدونو کښې دی او دغه
درې واړه جلد ونه په پښتو
رسم الخط لیکل شوی دی. او دا
خبره چه د دې تفسیر مفسر څوك
دی؟ اوچا او د کوم مطلب په
اساس دا تفسیر به پښتو لیکل
شوی دی په دې باب کښې د پښتو
نظم په دې ډول شروع کیږی:

چه امیر الامرا د هندوستان دی
بهادر افضل الدوله میر افغان دی

د دې منظومې په نورو
شعرونو کښې د افضل الدوله
په کورنۍ او قبیلې او یا په بل
عبارت د ده شجره نسب هم په دې
ډول ښودل شوی دی چه
افضل الدوله په مندوزی کښې ته
*منوزی او اتمان دی او په
اتمان کښې سدوزی، ځلیزی
او په ځلیزی کښې عمر خیل
او په عمر خیل کښې مهیخیل
او په مهیخیلو کښې
جهانګیر خیل او نذر خیل
دسیدخان د کورنۍ څخه دی
دسیدخان زوی حیات خان ؤ
او د حیات خان زوی احمدخان ؤ
او د احمدخان زوی افضل خان ؤ
چه د نواب په خطاب یاد یده
د دغې منظومې وروستی شعرونه
دادی :

چه فارسي په پښتو ژبه افضل خان کړه
هم په دا چه ئې لولی هر افغان

چه مې وقرو قار د برؤ په جهان کښې
چه باله شم لوی امیر په هندوستان
په دا څه که روزګار د دنیا زه کړم
محبت مې دی په دین باندې بې شان
په خاطر کښې مې هر کور فکرونه د پرشول
وسیله مې نزد د خدای ته که قرآن
ما چه وحی د قرآن و نیوه لاس کښې
چه خپل ځان اوخپل ایمان کړم په امان
افضل خان بنده درب رحمان رحیم دی
امتی د محمد یم د امې شان

دپورته څو اشعار و څخه
داحقیقت څرګندیږی چه افضل
دا کار دې دپاره کړی دی چه
پښتانه داولولی او په دې وسیله
دخپل دین څخه خبر شی او که
څه هم دافضل خان مقام نن
په دنیا کښې ډیر لوړ دی لیکن
ددین په مقابل کښې دغه مقام
ته هیڅ اهمیت نه ورکوی او د
خدای په بندګۍ
او د محمد صلی الله علیه وسلم
په امتی توب افتخار کوی .

درامپور په رضا نومی
کتابخانه کښې په پښتو ژبه
نور ډیر غټ کتابونه شته دی
چه په دغو کتابونو کښې
فوائد شریعت، اورشید البیان،
مخزن الاسلام، اختیارات
بدیعی، او د نورو ترجمې
دذکر وړ دی .

دقاسم علی خان افریدی دیوان:
دپښتو دشعر او ادب په کتابونو
کښې دقاسم علی خان افریدی
دیوان له دې کبله د ډیرې
توجه او اهمیت وړ دی چه دی
په هندوستان کښې دپښتو ژبې
وروستی هغه حریت پرست ملی
شاعر دی چه دډیلی دپاچاشاه علم
مغل په دوره کښې ئې
دانګریزی اقتدار په مخالفت
کښې توره او قلم او چت کړی
او عام خلك ئې دانګریزانو په
خلاف پورته کړی دی ده به تل
دوطن دافرادو داتحاد او اتفاق
مرسته کوله، دده په شعرونو
کښې د(بسنت) داختر په خصوص
کښې هم ډیر شعرونه شته دی،
دده له دغو شعرونو څخه
معلومیږی چه دې شاعر دملی
اخترونو سره ډیره مینه درلوده
او ګډون به ئې پکښې کاوه،
په دې لاندې کرښو کښې
دده هغه درې نظمونه وګورئ
چه دې شاعر دفرخ آباد دښار
او په دې ښار باندی ئې دفرنګیانو
دقبضې او دبسنت دملی اختر
پشاو خوا کښې ویلی دی .
دفرخ آباد په ستاینه کښې :

ښه دی ښهر ښه مکان فرخ آباد
کم ئې مه ګڼه ! تر ګلستان فرخ آباد
چه جنت نظیر کشمیر ته خلك وائې
تر کشمیر دی زیات اعلان فرخ آباد
عجب شهر دل فزا دی په جهان کښې
افتخار په هندوستان فرخ آباد
وګنګا ته هر سبا خلك را درومی
هندوان به کـه شنان فرخ آباد
ښه سیلو نه د ګنګا په غاړه کاندی
هم مردان او هم زنان فرخ آباد
زلمې نجونه لکه ګلونه روانیږی
دې شنان تـه هندوان فرخ آباد
روان چا به په جهان لیدلی نه وی
زه روان ګورم بوستان په فرخ آباد
دبازار په سیر که درومی (څه) ورورہ!
زړه کړه بای په محبوبان فرخ آباد

کشاده بازار هم کوڅی ارتی دیرې(۱)

بل ښار نشته دی پشان فرخ آباد

په دنیا به خدای پیدا که جنت کړی

خدای زو کړی بی گمان فرخ آباد

﴿په فرخ آباد دپرنګیا و قبضه﴾

قاسم علی خان افریدی دفرخ آباد دستاینی نه ورو سته په دې ښار باندې دانګریز انو د قبضې په مخالفت کښې خپل خپګان په دې ډول ښکاره کوی:

اوس هیهات، افسوس، الم اوغم ماتم دی

شوه استو کنه زمونږ گران فرخ آباد

دانګریز طنبوره طرم دلته غږ یږی

نصارا شوحا کمان فرخ آباد

حکومت دینښتنو له سره لاړ

حکومت کا انګریزان فرخ آباد

داشراف او کمین فرق هیڅ نشته

شو اعلی ادنی یکسان فرخ آباد

اوس حرمت زمونږ تسلیم رضا دحق دی

حق تعالی شی نګهبان فرخ آباد

یاؤهسې یاشوهسې له گردشه

شو اول آخر بیان فرخ آباد

د فرخ آباد د سردارانو په خصوص کښې:

په فرخ آباد باندی دانګریزانو دقبضې په وخت کی کومه نا مردی چه دفرخ آباد د سردارانو کړې ده د هغی په خصوص کښې قاسم علی خان خپل خپګان داسې ښکاره کوی:

مګر داچه دستم کشتی شوه دوبه

چه عادل شو فرنګیان فرخ آباد

(۱) ددې شعرونو په نقل کښې څه غلطی پیښه شوې ده

راغلی لیک

د پښتو

په دردرښتین دردمنده

د پښتو تولنی مشره!

له دیری مودې راهیسی ما غوښته چه په کوم فرصت کی درامپور ریاست نه ولاړ شم او د پښتو ژبی د نامتو شاعر کاظم خان شیدا قبر ولټوم، خو له بده مرغه تر اوسه لا داسی مناسب فرصت را نه مونده شوی نه دی، له بلی خوامی په دې ورځو کی وار و بدل چه درامپور دریاست په کتبخانه کی د پښتو ژبی ځینی ښکلی او نادر قلمی آثار شته، دې خبری لا زه سرانې کړم چه که زه پخپله نشم تلای باید څه نه څه دبل چایه واسطه خو له دې آثارو نه خبر شم هغه ؤ، چه خان غازی کابلی چه پخپله هم د دیری تیزی پښتنی جذبی خاوند دی زما غوښتنه ومنله او د رامپور ریاست ته ولاړ؛ هلته ئې د کاظم خان شیدا دقبر په لټون کی دیر زیار و یوست خو کامیاب نه شو. مګر د رامپور دریاست کتابخانه ئې و کتلای شو.

او لکه چه وائی حقیقتا
د پښتو ژبې ډېر ښکلی قلمی
آثار هلته شته چه د ځینو معرفی
پخپله خان غازی کړې ده
چه هغه دده لیکنه هم ستاسی
د کتلو د پاره درولېږله شوه.
دده په لیکنه کی څو نکتې
نوی او په زړه پوری دی :
۱ د شیدا د مړینی نېټه چه تر اوسه
څرګنده نه وه او س څرګنده شوه.
۲: تفسیر القرآن په پښتو ترجمه
د افضل خان په قلم هم ما تر اوسه
نه دی لیدلی او هم دا افضل خان
تحقیق غواړی او که خدای کول
تاسی ته به ئې مفصل حالات
درولېږم ځکه چه دا یقیناً
افضل خان خټک نه دی او بل
دا چه داسی معلومېږی چه ډېر
مشهور او د پښتنو مشر سړی و،
او د امیر الامرا په نامه یاد ېده .
۳ د قاسم علی اپریدی دیوان
دی چه تر اوسه ئې نسخه ښه نه وه
لیدل شوې.
نوره نو ستاسی او ستاسی
د ملګرو کامیابی
غواړم او د خان غازی لیک
او لیکنه درو را ندی کوم.
(بینوا له ډیلی څخه)

ننګیالان د ننګیالی خبره څه که
وار خطا کړه نوابان فرخ آباد
بی جنګزیز ئی ملک په خپله حواله کړ
وایم څه به سرداران فرخ آباد
نامردی تر دې سوا به نوره څه وی
محکومان شو ساکنان فرخ آباد
دی جنت ثانی باعث د غیر حکمه(۱)
تر اعراف پشان فرخ آباد ؟
قاسم علی همیشه له فرنګیانو
له حق تل غواړه امان فرج آباد

د ډیلی د شاه عالم بی حسی

د قاسم علی خان اپریدی دا بل دولولو نه ډک نظم و کوری چه له
دې نظم څخه د ډیلی د پاچا شاه عالم په بې حسۍ او بې وسۍ
او پر پشانۍ پوره رڼا غور ځېږی .
اوس په هند چه خدای پیدا کړ فرنګی
دا فرقه د نصارا ؤ ده جنګی
نصارا په هندوستان حکومت کاندی
چېرته ولاړ هغه ځوانان شمشیر ننګی
پقالان به سپاهی په هندوستان شو
دریزه کاندی اشراف چنګی چنګی
حیف در حیف چه حرمت د اشراف نشته
په اسلام هسې راغلې ده تنګی
احمد شاه ابدالی نشته دی یارانو
چه په سر کاندی غلام حبش زنګی
شاه عالم د قناعت په حجره کښېناست
که پیداشی نور اولاد تیمور لنګی

(۱) ددې بیتونو په نقل کښی هم څه غلطی پېښه شوې ده

په رام پور کښې

د کفار سره هغه به که ته تیغ
چه پیدا نه وی له موره دو رنګی
قاسم علی که ننګیالی د وطن راشی
د کفارو په غزا به نه کاد ورنګی

د بسنت ملی اختر

د قاسم علی خان اپریدی په
پښتو دیوان کښې پرته له
ادبی، سیاسی کلام څخه دهند
د ملی اختر و نو او دهند د خلکو
د اتحاد او یووالی په شاو خوا
کښې ډېر پښتو شعر و نه شته
دد، له دغو شعر و نو څخه
څرګندېږی چه دهند ټول خلك به
په خپلو ملی اختر و نو کښې
سره یو ځای کېدل او قاسم علی خان
به هم دغو ځایو ته ورته او دهغو
په دغو موسمی اختر و نو کښې
به ئې ګډون کاوه او خپل
نظمونه به ئې پکښې اورول، له
دې پور ته مضمون څخه دا
معلومېږی چه په دغه وخت کښې
دهند هندوان هم په پښتو ژبه
پوهېدل او دا ځکه چه که دوی
په پښتو نه پوهېدلی نو په دغه
صورت کښې به ده خپل نظمونه
ولی هغوی ته اورول.

په هرحال د بسنت په خصوص
کښې د قاسم علی خان د دیوان
په (۲) مخ کښې دا شعرونه
لیکلی شوی دی:

فصل ګل راغی ښه آغاز شو بهار بسنت
ګل رخان جوړ کړو زړو کی له روزګار بسنت
رشك کابل او د کشمیر په ځمکه هند شو ګڼه
بلکه تر ګل ملکونو به دی افتخار بسنت
عندلیب راشی په ګلونو چغار و نه و که
وېره د صیاد دی فراموش کړی په ګلزار بسنت
په دغه بزم چه قاسم علی خان به راشی کله
سرومال هیڅ ساتلی نشی که نثار بسنت

ښاغلی م، هاشم ترکی

د تونس

خپلواکي

دی کښې هیڅ شك نشته چه حق
آخر خپل خاوند ته رسیږی
یا په بل عبارت حق هیڅ وخت
د تسلیم سر نه ټیټوی او همیش
غالب وی او دی.

ګران لوستونکی خبر دی
چه وروسته له (۷۵) کلونو نه
د تونس ازادی خواه ملت چه
ډېر عمر ئې د خپل فطری حق
چه دد غوښتلو په لار کښې
زحمتونه تېر کړی وو،
۱۹۵۶ع کال د مارچ په (۲) نیټه
په خپل مرام موفق شو،

تونس دا لجزایر د شرق
خوا ته د روم بحر ته نژدی
یو اسلامی مملکت دی او خلك
ئې ټول په عربی ژبه خبری کوی.

تونس تر اسلام د مخه له
(۲۵۰۰ ق م) څخه لومړی ځل
د فنیقیانو رومیانو او اندالیانو

تر تسلط لاندی ؤاوورو سته له
څه مودي بیاد بیرانس دامپرا
طوری تر حکم لاندی راغی
کوم وخت چه داسلام دین په
شرق او افریقا کښی غلبه
وموندله نو د میلادی او د
اوولسمی پېړۍ په لمړ نیو وختو
کښي دغه مملکت د عربو
ولاس ته ورغی او په ۱٦ پېړۍ
کښي دعثمانی خلافت تر نفوذ
لاندی شو مگر بیا هم تونس
خپل مجاهدت له لاسه ور نه
کړ څو چه په ۱۸۸۱ ع کال
کښی داروپا د بالقانی مملکتو
د تسلط په اثر دافریقی د نیولو
په لړ کښي دغه ځای (تونس)
دفرانسو یا نولاس ته ورغی
دتونس ملت دفرانسی دغه
اقدام ته ډیر د نفرت په ستر گه
کتل مگر په ۱۸۸۳ ع کال
کښي دفرانسی او د تونس
دبیگ تر منځ په (بار دوی)
نومی ځای کښي یوه داسی

معاهده لاسلیك شوه چه تونس به
وروسته تر دی دفرانسی حمایه کوی
او تونس به په خپلو خارجی او
داخلی چارو کښي حق لری چه په
خپله د دغه مملکت له خوا اداره
شی په اخر کښي د بیگ دغه
تړون له منځ لاړ.

د دغی معاهدی دغه رنگ
د تونس د ملت په بدن کښي دازادی
او حریت جذبه وښورو له او د آزدی
غوښتلو په غرض ئي په مبارزه
لاس پوری کړ د دوی دغو مبارزو
او مجاهدو په کلونو کلونو
دوام وکړ مگر بیا ئي هم د استعمار
پنجی ونه شوای کښلی څو چه
د بین المللی دو هم جنگ نه
وروسته د تونس دازادی
غوښتونکو د مجاهدو لمن پراخه
شوه او د فرانسی حکومت
ئي په دې پوه کړ چه مونږ له
خپل فطری حق نه نشو تېر ېدلای

هغو ؤ چه تیر کال د فرانسی
حکومت د دغه ملت د نهضت
دغلی کولو د پاره تونس
ته داخلی خپلواکی ور کړه
مگر سره د دغه هم د تونس
د مجاهدو اورمړ نشو او هره
ورځ به د دغه مملکت
او سیدونکو مظاهری کولی
او د فرانسی د حکومت څخه
ئي په جدی ډول غوښتل
چه مونږ کامله او پوره
خپلواکی غواړو داو چه د
۱۹۵٦ ع کال د مارچ په ۲ نېټه
د ښاغلی طاهر ابن عمار
صدراعظم او ښاغلی بورقیبه
د دغه مملکت د نوي دستور د مشر
له خبرو څخه وروسته
دفرانسی مقاماتو د تونس پوره
خپلواکي اعلام کړه او د دنیا
د آزادو مملکتو په ډله کښي
یو بل آزاد مملکت زیات
شو. مونږ د تونس ملت ته
د دغې مهمې کامیابۍ
مبارکی وایو.

دبرتش دموزیم دقلمی نسخو له کتلاك څخه اتمه برخه :

دراز محمد « بیمار » ترجمه:

دپښتو قلمی کتابونه

دبرتانیې په موزیم کښې

٤٤

پرله پسې گڼه ۲۸۲٦-۷۹ پاڼې- ۱۱ انچه ۷ و نیم انچو کښې دا نسخه سمه او په احتیاط لیکلې شوی ده دصفحو شمیر (۱۵) دهرې کرښې اوږ دوالی ۵ انچه او دلیکلو نېټه ئې ۱۸۸۲ عیسوی کال دی. « هیوز »

دیوان ابوالقاسم

دابوالقاسم داشعارو ددیوان څخه عبارت دی چه داسې شروع کېږی :

بیا گلگشت ته شه روان نگار ځما
نه که هیڅ فکر تدبیر د کار ځما
رقیب چه که ځما اوښې پاکیزه کړی
خوښی ئی نه دی هیڅ آبروی وقار ځما
راز چه ورسی تردوه کسه رسوا شې
دې لیمو کړه را دا ښکاره اسرار ځما

ددغه شاعر په باب هیڅ معلومات نشته، میجر راورتی هم دده په باب څه نه دی لیکلی- یوازی کوم معلومات چه دمستر هیوز له خوا دنوموړې په باب لاس ته راغلی دی هغه دادی

چه: نوموړی شاعر اصلا دپېښور دی- اودمړینې نېټه ئې معلومه نه ده،
ددغی نسخې کاتب په محمدحسن پېښوری مشهور دی:

٤٥

پرله پسې لمبر ۲۸۷٤ دپانوشمیر ۱۱۹- ۹ ونیم انچه په ۷ ونیم انچو کښې چه په ۱۹ پېړۍ کښې لیکلی شوی دی. (هیوز)

«انتخابات»

دپښتنو شاعرانو داشعارو د یوې غوره سلسلې څخه عبارت دی چه د عبدالرحمن په دغه لاندنی غزل باندې شروع کېږی:

که ماښام ترستونې تېره کړې حلوا
سبا خواست کوی له خدایه دښور وا
تمامې عمر تـر یار تر عزیز پورې
لویې کیدی مختورن کړی هم رسوا

دادې دشعراؤ لست اود هغوی د اشعارو اوغـزلو لمبرې، یوه یوه په لاندی ډول وګوری:

عبدالغفور- ٤ شعره، دالف ۲۲ پاڼه، دب ۵۲، دالف ٦۳ اودپ ۱۱۸ پاڼه
عبدالحمید- ۳۳ »
عبدالقادر- ۲۵ »
عبدالله(۱)- ۱۲ »
عبدالرحمن- ۲۲ »
افضل - ۲ » دالف ۹۸، دب ۹۹ پاڼه.
-علیم- ٤ شعره دب ۲۳ پاڼه دالف ۲۸ اودب- ٦- ۷- پاڼې
-اشرف ۱۹ »
- اشرف خان خټك متخلص به هجری «۲» شعره دالف ۵۳ او ۹۷ پاڼه
-دولت- ۷ شعره
-دوست محمد- ۳ شعره (الف ۲۹) دب ۸۵ او ۸۸ پاڼه
- فاضل- ۲٤ شعره

---

(۱) دهغه دنامه املاء داسی لیکلی شوې ده (عبدل)

-فضل - اشعردب ۸٤ پانه

-حسین -۲ شعره دب۲٤ او ۱۰۲ پانه

- ابراهیم (۱) ۲شعره دالف٦٦ پانه اودب ۸٥ پانه

- عصام(۲) ٤شعره دالف۱٤، ٥۱، ٥٦ پا نه اودب ۱۱٥ پانه

- قلندر- ٦شعره

- کامگار خټك۲۹-

- کاظم- ۳شعره دالف۱٦، دب۱۷ او ۹٥ پانه

- خوشحال‌خان خټك٤ شعره

- مهین- ۳شعره دب٥٦، ٥۹ اود الف۸٤ پانه

- میرزاخان انصاري ۲شعره دالف۲٥ او ٥۰پانه

- معزالله- ۳شعره دب۲۸، دالف۸۱ او۱۱۸ پانه

- صدرخان خټك ۱۲ شعره

صمد- ٦ شعره

صدیق- ۱۷ شعره

سکندر- ٤ شعره دب۱٦، ٥۸، ٦۱، او۱۰۸ پانه

عثمان- ٥ شعره

یونس- ۳۸ شعره

دا نسخه د «چمن بې نظیر» په‌نامه معنون‌ده لکه چه‌په پهرنۍ خوا کې ئې لیکل شوی دی؛ خو دنوموړي نسخې په متن کښې بیا د غه عنوان نه لیدل کېږي، په «کلید افغانی» کښې هم د «چمن بې نظیر» ترعنوان لاندې دپښتنې شعراوو څخه یوه سلسله اشعار په‌جنګی صورت انتخاب اواقتباس کړی شوی دی چه‌د «کلیدافغانی» د کتاب یوه برخه ترې جوړه شوې‌ده.

او داسې ورنه معلومېږی چه د «کلید افغانی» نوموړی اشعار د همدغی قلمی جنګی نسخې څخه چه موجود او خو را لو یه ده دمستر هیوز له‌خوا انتخاب او نشر شوی دی،

---

(۱) دنوموړی دنامه املاءهم (ابراهیم) اوهم (ابراهم) راغلې ده .

(۲) دنوموړی دنامه‌املاء کله‌کله «حصام» راغلې‌ده، خودالف‌په ٥۱ پانه کی دشعر په عنوان کی «عصام» راغلې دی اوپه اصل‌متن‌کی «حصام» لیکلې شوې‌ده .

٤٦

پرله بسی لمبر ٤٥٠٤-١٢٩- یانې ٩ ١/٤ انچه په ٥ ١/٤ انچو کی نیټه دهرې صفحی د کرښو شمیر ١٤ دهرې کرښې او دزوالی درې نیم انچه د لیکلو ١٢٧١ هجری= ١٨٥٥ عیسوی (میجرر اور تی).

(گلدسته)

په نظم اونثر سره دشیخ سعدی د گلستان پښتو ترجمه ده چه د عبدالقادر خان ختک لهخوا لیکلی شوې ده (په همدغه سلسله کی دې ٢٥ لمبر کتاب و کوت شی) دغه نسخه داسی شروع کیږی:

« منت دی خدای لره چه غالب اولوی دی او عبادت ئې سبب د نزدیکت دی او په شکر دده کښی زیاتوالی د نعمت دی. هر نفس چه ښکته لحی مدد ور کوونکی دحیات دی او هر کله چه یو رته راځی فرحت رسوونکی دذات دی، پس په هر نفس کښی دوه نعمت موجود دی، او په هر نعمت شکر واجب دی.»

د گلستان د دیباچې د ترجمې نه وروسته عبدالقادر خان خپله پښتو مقدمه هم هلته نیولی ده، چه دامقدمه ئې نظم اونثر دواړه لری.

عبدالقادر خان په خپله دغه مقدمه کښی داسې لیکی: چه نوموړی د بخت نصیب او سرنوشت د انقلاب او تغیر په ترخ کښی «به ١١٢٤ هجری= ١٧١٢ ع کی» دپېښور د نوښار په یوه غم خانه کی اوسیده چه نه ئی دوست لاره او نه آشناء او نه دزړه درازونو او غم شریکی ملګری، لکه دیو صحرائی حیوان په څېر چه په خپل غار کی ځانګړی اوسیږی یوازی اوسیده.

دیو مطلب څرگندونه

لس پنځلس کاله پخوا به
مونږ په پښتو لیکوالو پسی
څراغ په لاس گرځېدو ؛ نن
دنیک مرغۍ او خوشحالۍ
خبره ده چه دلیکوالو شمېرمخ
په زیاتېدو دی . که پخوا په
لس کاله کښی یو سړی لیکوال
کېدای شو نو نن په دوه درې
کاله کښی دلیکوالو په ډله
کښی در ېدای شی، ددې وجه
داده چه نو یو لیکوالو ته لیار
تر ډېره حده یا که او هوا ره
شوې ده ؛ د کلمې دلیکلو او
جملی دجوړولو په ډول کښی
دومره فکر کولو ته نه اړ کیږی
؛ دنو رو پخو لیکوالو لیکنې
ئې همیشه له نظره تیریږی
او خپله ابتدائی مرحله زرتر
زره تېروی ، په نالیدلی او
سخته لیار تگ او په لیدلی
هواره او پا که لیاره تگ ډېر

سره فرق لری . دپښتو ټولنی
په لمن کښی دغسی ډېر نوی
لیکوال و روزل شول ، له
لیکوالۍ او نو یسندگۍ سره
اشنا شول ، د نوم او شهرت
خاوندان شول دقلم دخاوندانو
په ډله کښی حساب شول — یو له
دغو کسانو څخه ښاغلی عبداله
بختانی دی چه په ابتدائی
صورت پښتو ټولنی ته راغی
او دلته وار دواره د (زیری) دنوی
اخبار مدیر کړی شو ، د پښتو
دنثر په لیکلو کښی ئې لاس
وموند ، د نوم او شهرت خاوند شو
مگر چه له پښتو ټولنی څخه
په رسمی ډول جلا شو نو بیائی
دپښتو ټولنی په مخالفت کښی
دځان دلویۍ نسخه پیدا کړه او
په پوره مداومت ئې دغه نسخه
عملی کړه زمونږ سینه او حوصله
لویه ده ، که څوک ز مونږ

دمخالفت په نسخه جوړیږی او یا
او ئیږی خدای دې هغه جوړ کړی
مونږ دچا په روغتیا او لویۍ
هیڅکله نه خپه کیږو.

مگر په ډېر احترام له دغسی
کسانو څخه داهیله کوو چه په
رسمیاتو او اجتماعیاتو کښی له
شخصی مخالفتونو څخه ځانونه
وساتی او رسمی اخبارونه
دشخصی خپگانونو دڅرگندولو
دپاره استخدام نکړی دزېری
په کومه گڼه کښی ښاغلی
بختانی دملنگ جان دخوږو
نغمو د کتاب په باب کښی چه
د کابل په مجله کښی خپریږی
دخپل حق دعوه کړې وه او
لیکلی ئې وو چه پښتو ټولنی
د کتاب دمرتب او مصحح په
تکلیفونو سترگی پټی کړی
دی — مونږ د ښاغلی بختانی
زیار او زحمت چه دملنگ جان

فاشعارو په ترتیب او پاکنویس کښې ایستلی دی منو او هر وخت چه کتاب تکمیل شو او د کتاب په مقدمه کښې به د ټولو یادونه وشي. دلته ښاغلی بختانی په دې عمومی مسئله کښې د شخصی مخالفت رنګ هم ښکاره کړی دی مګر مونږ له هغې تیریږ واو په عمومیاتو باندی غږ یږ و پښتو ټولنې چه د ملنګ جان دا شعارو دچاپولو بار په خپلو اوږو واخیست لوی مقصد ئې داؤ چه دا کتاب په صحیح ډول، په ښه شان دوخت د سیاست سره سم چاپ شي، د پښتو د آثارو او نشریاتو د تصحیح او سمولو انتهائی قوت او صلاحیت له پښتو ټولنې سره دی او دا کار هر ډول لیکوال نشي کولای.

څومره ګرامری، لغوی او سیاسی اصلاحات چه په دغو اشعارو کی د پښتو ټولنې له خوا شوی دی او کیږی، هغه په اصله مسوده کښې په سره قلم لیکل شوی دی او هرڅوک ئې کتلای شي مونږ دلته د نمونې په ډول د پښتو ټولنې د اصلاح یو څو مثالونه ښیو:

اصل:- نن می بیا کلمې نرۍ نرۍ خوږ یږی

اصلاح: نن می بیا زړګی نری نری خوږ یږی

اصل: تاسی ګورۍ د دنیانو رانسانان ته

اصلاح: تاسی ګورۍ دې دنیا او دې جهان ته

اصل: خوډا ګونه د کمبود په اوبو وران دی

اصلاح: خوډا ګونه د اوبو له کمی وران دی

اصل: ښه وطن ډک په کانونو خدای را کړی

مګر مونږ د بی علمۍ سیلاب یوو ړی

اصلاح: ښه کانونه په وطن کښې خدای را کړی

په دې ډول نور هم پکښې ډېر اصلاحات شوی دی او کیږی اوس هرڅوک په خپله دا قضاوت کولای شي چه پښتو ټولنې دا اقدام د پښتو د خیر د پاره کړی دی او که د ضرر د پاره؟

مونږ ښاغلی بختانی ته ډا ډور کوو چه د ترتیب او پاکنویسۍ حق ئې محفوظ دې او په مقدمه کښې به خامخا یادونه وشي مګر د تصحیح حق ئې له بده مرغه محفوظ نشي پاتی کیدای ځکه چه د نوری تصحیح ضرورت هم موجود دی او دا تصحیح د یوې علمی او ادبی ټولنې له خوا کیږی

(پښتو ټولنه)

په دی پنځلسو روځو کی

کورنی خبرونه:

* زمونږ معظم واکمن دسعودی عربستان محترم پادشاه ته دافغانستان دراتللو بلنه ورکړې ده دغه محترم پاچا زمونږ دګران واکمن دغه دمینې بلنه منلې ده اودسنبلې دمیاشتی په لمړیو شپو اوورځو کښی به افغانستان ته تشریف راوړی.

*ښاغلی جنرال محمدقاسم خان دافغانستان دشاهي حکومت له خوا په عراق کی دمختار وزیر په حیث مقرر شوی دی.

* * *

*دچخانسور وګړو ته دسختو تاوانو رسېدل دهغه بند دجوړولو په اثر چه دایران دحکومت له خوا دکهك په برخه کی دهیرمند پرسیند جوړ شوی دی اوداوبود طغیان او ډېر والی په وخت کی دهمدی بند دروازې تړلی کیږی نو داوبو دمخی دبندېدو په اثر دشیر آباد دیوالك او اکثرونو روبرخو ته ډیر سخت زیان رسېدلی دی

دخان عبدالغفار خان وینا

خان عبدالغفار خان دقصه خوانۍ دشهیدانو دتلین په مناسبت په یوه لویه جلسه کی وویل دانګریزانو لښکرو په زرو پښتانه مجاهدین شهیدان کړل ترڅو چه دهغو قربانیو په برکت پاکستان جوړ شو مګر نن دتعجب ځای دادی چه دآزادۍ دلاری مجاهدین او دهیواد اصلی خدمتګاران (خدائی خدمت ګاران) دهغو کسانو له خوا خائنین بلل کیږی چه دانګریزانو دګټی دپاره ئی هغه وخت کار کاوه اونن بیا ځانو نه دوطن اصلی خدمتګاران بولی

ده وویل چه په هر وخت کی زمونږ دمجاهدو غرض دپښتونستان جوړېدل او دپښتون دملی ثقافت ژبی ژوندی کېدل و نه بل شی اودا کار به تر هغه وخته جاری وی چه دا مطلب لاس نه راشی.

په پښتونستان کښې

دامریکې ده آزاد پښتونستان ، دتولنې له خوا د پښتونستان په باره کې دسیاتو دفیصلې دنه منلو اعلان

په توله امریکا کې د پښتونستانیانو هغو ځلمیانو چه د تولنې مرکزئې د کلفورنیا په (ساکرامنتو) کې دې دسیاتو پر فیصله ډیر سخت اعتراض کړې دی اودا اعتراض ئې دتیلګرام په ذریعه دامریکې رئیس جمهور ته مخابره کړی دی دوی ددغې فیصلې دتردید او غیرقانونی بللو په غرض یوه رساله هم په انګریزی ژبه نشر کړی ده چه دنړۍ ټول وګړی له همدې غیرعادلانه فیصلې نه خبر کړی او تولې نړۍ ته وښئی چه د پښتونستان حق یو ثابت حق دی او دسیاتو دفیصلې حیثیت لمریه دوو کوتو پټول دی:

خوږې نغمې

(۹)

ظلم مې د پلار ولید

له خپله لاسه هر پښتون مې خوار وزار ولید
ظلم مې د پلار ولید چه ئې کاندی په فرزند

* * *

اول ئې د غه ظلم گوره زوی بې تعلیم ساتی په زوره ایله گشتی دپاره وروره
مکتب ته ئې نه لېږی په دې مې خیانت کار ولید ظلم مې د پلار ولید چه ئې کاندی په فرزند

* * *

چه زوی ئې وغواړی مکتب له د معارف علم وادب له نه چه د ځان کوم یو مطلب له
پلار به ئې ناراض وی د غه رسم مې روی کار ولید ظلم مې د پلار ولید چه ئې کاندې په فرزند
پلار به ئې کوښښ کوی بار بار زوی د مکتب نه کړی کنار یا به رشوت یا په بل چار
ځکه دنیا کښې مې پښتون غریب نادار ولید ظلم مې د پلار ولید چه ئې کاندی په فرزند

* * *

باید چه پلار د چا پښتون وی زوی ئې په عقل افلاطون وی بغیر له علمه څه ژوندون وی
ما ملنگ جان په بی علمی کښې ځان بیمار ولید ظلم مې د پلار ولید چه ئې کاندی په فرزند

زه وطن خاص د پښتنو د ستر گو توریم

زه وطن خاص د پښتنو د ستر گو توریم دښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

* * *

ز دهمت ارزو لرم د فرزندانو ځنی غواړم چه باج واخلی ځنگلو کښی د زمریانو ځنی
چه پاته نه شی په دنیا نور وځوانانو ځنی په دې ارزو لاس په دعا د رب په لوریم
د ښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

* * *

خلك دنیا کښې خپل وطن ته خدمتونه کوی بحر و فضا ښې امتحان مهم کارونه کوی
غټ او واړه ور ته خدمت لکه مریونه کوی زه ستاسو پښو لاندې پایمال په جنگ و شوریم
د ښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

* * *

نور وطنونه نن زما په حال خبری کوی ټوکی، خندا او مسخرې را ته دلیرې کوی
توپ طیارې جنگی سامان جوړوی غورې کوی زه په دې شته جائداد د بل خریده خوریم
د ښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

* * *

رڼې او په لکه شو ده ښه نعمتونه لرم ستر گې بینا کړی ء په عرفان د سرو کانونه لرم
زما په غېږ پرورش کېږی ء امیدونه لرم زما حقوق ادا کوی ء په تاسو پوریم
د ښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

* * *

وطنه! ستا په خدمت واړه صادقان یو مونږه غټ او واړه حلقه بگوش ستا غلامان یو مونږه
په هر میدان کښې در ته سر و مال قربان یو مونږه زه ملنگ د ستا په مینه سوی سکوریم
د ښو زلمیانو موریم با ننگ مې فرزندان دی

په توره او قلم

پښتونه وروره برابر دي کړه رقم په په توره او قلم اولاد دې تربیه کړه

* * *

پښتونه و کوره جهان ته خلك نژدی رسی آسمان ته ته لږ غیرت ودروه ځان ته
لکه دمړی به ترڅو پروت ئې بې دم په توره او قلم اولاد دې تربیه کړه

* * *

یو بل ته لاس دمحبت ور کړی ءدزړه په صداقت پرېږدی ء کوندی او عداوت
دخپله لاسه په ځان مکوه ستم په توره او قلم اولاد دې تربیه کړه

* * *

توره په ملا قلم په لاس میدان ته ووځه په اخلاص ځان کړه تېره لکه الماس
دتنبلۍ بستر نه لېری کړه قدم په توره او قلم اولاد دې تربیه کړه

* * *

څوك چه خدمت په صداقت کوی دقام او دملت هغه ژندوی وی تر قیامت
زه ملنګ جان ئې دعا کوی یم په هر دم په توره او قلم اولاد دې تربیه کړه

خپل همسایه سره کومک...

خپل همسایه سره کومك کوه باداره سخی سرمایه داره په مال دې برکت شه

* * *

دا کوندې رندی یتیمان خپل وږی بربنډ اریان دریان خپل

پټ اوماړه سانه خواران خپل

خالق به در کړی عوضونه په زر واره سخی سرمایه داره په مال دې برکت شه

* * *

دسود نه لاس واخله سود خوره دآخرت سختی ته گوره

داسود خوری مه کوه نوره

څه له لړې ددوزخ اور دځان دپاره . . . . . .

* * *

پیسې به لوراو په خور ماخله ځان باندې قرض دگور ماخله

داسرې سکر وتې داور ماخله

په خوراو لور تجارت مکوه هوښیاره . . . . . .

* * *

ملك صاحبه وایم تاله ساخته کاری ځنی لاس واخله

دمظلو مانو از ارماخله

غلط رپوټ نور مه لیکه دخدای دپاره . . . . . .

ځینی خانان دې ځانته گوری نور په گوندی کښې دی نه ښوری

گوندی دقام دپاره اوروی

ستا په گوندی کښې گټه نشته گوندیماره . . . . . .

* * *

څوك دې پر ما نه غصه کېږی حق نه دې هېڅوك نه تېر ېږی

بددې پخپل بدو شر مېږی

ماملنگ جان نه گیله مه کوه بد کاره . . . . . .

هرڅوك چه رشوت خوروی

لکه تبی مخ به ئې دواړه پلو توروی هرڅوك چه رشوت خوروی په ځان دې وو پرېږي

* * *

چه اخستل به ئې رشوتونه دمظلومانو آزارونه په سر ئې راغلل چپاوونه

اوس به په جګوستر ګوڅرنګه دوی ګوری هرڅوك چه رشوت خوروی په ځان دې وو پرېږی

* * *

چه درشوت سره ئې وه مینه تل به ئې څښله دبل وینه اوس کور کمن دې خرڅوینه

خلاص خو به نه شی که لاپاته چېرته نوروی هرڅوك چه رشوت خوروی په ځان دې وو پرېږی

* * *

په هر وطن کښې چه رشوت دی خراب تراب هغه ملت وی دترقی نه په ذلت وی

رشوت خوری دقام دپاره خالص اوروی هرڅوك چه رشوت خوروی په ځان دې وو پرېږی

* * *

رشوت خواره دې خبر دار شی دبدعمل نه دی بېزار شی که نه په غم به ګرفتار شی

دملنګ جان دشاګردانو به پرې شوروی هرڅوك چه رشوت خوروی په ځان دې وو پرېږی

مه وایه رښتیارا باندی...

مه وایه رښتیارا باندې سر به مې په دار شی
څوك به په رښتیا کښې د رښتینی طرفدار شی

مه وایه رښتیا را باندې دې کښې مې تاوان دی
مرگ نه نه وبر ېږم لاکن خوف مې د زندان دی

نه به مې باز خواست وی نه خرڅی دا مې ارمان دی
بېر ته به واړه مې په کور پاتی نهار شی

* * *

غله نه دی داڅه دی چه او مې غوښ د قام خوری
دعوه د شرافت کوی پکښې سود وحرام خوری

دخپل همسایه چرگ وچرگوړی شامدام خوری
ښایسته هلك چه وینی وائی که دا مې خدمتگار شی

* * *

ظاهر کښې ځان بزرگ کړی په خوله کاندی تلاوت
دوه تنه په اولس کښې جنگوی په شیطانت

گناهگار باندې نس غوړ کړی بېگناه کړی ملامت
بیائی ولیږی قضاته پاك الله دې دخوار یار شی

* * *

چه لاړ شی محکمی ته زیاتی هیڅ نه شم ویلی
په دې چه زه قاضی صاحب له پخوا یم ویرولی

آخر کنز ئې وی مخکښې لاس ئې شاته وی نیولی
زه ټول در ته نه ښیم دځینو دا روزگار شی

* * *

نومونه که ئی ښکاره کړم سمدستی به مې قصاص کی
دخدای دپاره څوك به مې بیا دې بلا نه خلاص کی

ډوینو مې زړه ډك شو تر ېنه ولو ېده څو ځاڅکی
مجرم شو ملنگ جان نن یا سبا به گرفتار شی

مقامونه

ځانته و دروه پښتو...

ځان ته و دروه پښتو پښتو نه وروره
هرگز مه غواړه پولاو دبل د کوره
له هزار نعمت نه دا انسان ته ښه وی
سوړ سو کړك چه دچاوی دخپله شکوره
جار قربان دخپل وطن دتوت سنزلی
ام کېلې ته زړه ښه نه کړی دلا هوره
زیږ پښتون سره زیږه شړی جوړ ېږی
پروانه لری که وی په سر سر توره
دپښتون ډول و سنگار گویا غیرت دی
بې غیرت که بخمل پوش وی مه ئې گوره
خپله خمتا باندی کړه فخر ملنگ جانه
دیر دو شالو نه ډك وی د پېغوره

هغه څوك چه وی پښتون دورنگی

نه کا

هغه څوك چه وی پښتون دورنگی نه کا — حقیقت دی باز دزاغ همرنگی نه کا
که او بو په ځای شوده دغوښی کوچ خوری — خسکی چرگ په ځان چرگ کولنگی نه کا
چه د ننگ تی ئې رود لی وی له موره — هغه زوی به هیڅ کله بې ننگی نه کا
چه په سر ئې درنو تو روبا ران وی — هغه زړه چه دپښتون وی تنگی نه کا
ملنگ جان د آزادی دلار ملنگ دی
د رڼیا د پاره هیڅ ملنگی نه کا

زړه مې غواړی

زړه مې غواړی د گلونو په گلشن کښې
لاس دې نه وی داغیار دیار لمن کښې

په سرو وینو مې دپلار سره سره گلونه
ر ژول کېږی په پښو دزاغ زغن کښې

دا اثر دبې ننگۍ نه دی نو څه دی
چه ذوالیدمې شی بردی دپلار مسکن کښې

چه ښکاره ئې در ته ووایم پښتو نه
له دې ژونده پیچیده ښه ئې کفن کښې

تاسې راشیء ماقانع کړیء منصفانو
که خلاف دملنگ جان وی په سخن کښې

ځوانی ښځی ته چه ونه وائی ترور

ځوانی ښځې ته چه ونه وائې ترور
هغه دم به دې برباد کړی پلار او مور

هر سبا به دروازه کښې در ته ناست وی
چه وانه خلې نادیده سړی نه پور

بی گناه وهل به خوری آزار به ئې ستاوی
که دې ور کړه په بدل کښې لور او خور

کښېناستی دهغو وکړه ملنگ جانه
چه دې سم وی په کنډه ورسره زور

څه لرم چه دخدای په نام ئې ور کړم

څه لرم چه دخدای په نام ئې ور کړم
چه طبیعت دخان صاحب پرې برابر کړم

په زردرې زره جریبه قانع نه دی
مناسب وی چه یو چرگ ور میسر کړم

زما وږی نس ته نه گوری خان غواړی
اې یارانو سلارا کړیء څه هنر کړم

په سلام او په ځار ځار نه پخولا کېږی
سل گیز نشته چه له جیبه ئې بهر کړم

نن سبا به ئې تر لښتو لاندې مړ شم
اوس باید چه کور او کلی پرې خبر کړم

زه چه خدای کړم دهر چا گزار ته نخښه
څه گیله به دغریب اوزور ور کړم

نن به زه ملنگ جان صبر نه کار واخلم
خپل فریاد به پاك الله ته په محشر کړم

د چشمانو مې بهېږي...

د چشمانو مې بهېږي نن خو ناب
چه مې حال د زمانې ولېد خراب

صداقت او ننګ ناموس دنیا نه ورك شو — هر سړی خو زوی ژبه په کذاب
دسادانو سالکانو عزت ورك شو — عزت من دی چه اری چنګ و رباب
هېڅ صفت به د عالم چېرې وانه وري — د بیمخو صفت کېږي بې حساب
شال پوشان دزمانی ګرځی شړی کښې — دشړی خاوندان اغوندی کمخواب

دا ګردش دزمانې دی ملنګ جانه
کارغه ناست دی په چګس باز په تراب

هرګز مه وایه!

هرګز مه وایه هر هر ګل ته را مېېل
چه اصیل وی هله جوړ کړه ترې امېل

خوند او بوی وی دهرې میوې بېل بېل — په بکیانی کښې خوند نشته دی د هېل
فرق دسرو او جستو و ګړه ملنګ جانه — کوټ 'بنګال' پېروزه مه ګڼه یو خېل

خپل قسمت انسان ته هر چېری

رسېږی

خپل قسمت انسان ته هر چېری رسېږی — ګویا لیکه دا زل نه بېر ته کېږی
د تقدیر مخکښې تدبیر دشګو بند دی — دریاب هېڅکله په شګو نه بند ېږی
کب په منځ کښې د دریاب کناره ګرځی — داجل کونډه ئې خوله کښې تومبل کېږی
که څوك او سپنې کلا دځان نه تا وکړی — د نصیب ګذار هملته پرې لګېږی

خپل قسمت در سره مل دی ملنګ جانه
ستا نو څله د یو بل نه ګیله کېږی

بی غم کله...

بې غم کله د غم جن په غم پو هېږی
غم جن ځان لره د ځان په غم کړ ېږي
دردمندان دځان په درد کښې وېش ووای کړی
بې درد کله ددرد مند په درد خوږ ېږی
څوك چه موړ وی ټول عالم ورته موړ ښکاری
موړ دوږی په حالت کله خبر ېږی
دجمله زړونو مالك پروردګار دی
بنده کله دبنده په زړه رسېږی
ته پخپل غم ودردژاړه ملنګ جانه
دبل څه دی چه دستا په غم ژړ ېږی

رنګ څه کړم؟

رنګ په رنګ رنګونه وبنمه رنګ څه کړم
چه مې رنګ د آشنا نه وی بل رنګ څه کړم
ما میره ماله ایره دپتنګ راوړیء چه په څنګ له اوره ګرځی پتنګ څه کړم
که هزار ځله زلمی زوی دپښتون شي چه با ننګ دوطن نه وی بی ننګ څه کړم
حمله وکړه غورځنګ وکړه په دښمن خپل په خپل ورور باندې دې غټ غټ غورځنګ څه کړم
طلبګار داصیل ګل زه ملنګ جان یم
چه ترې بوی دګنډېری ځی لونګ څه کړم

که دبل نه اخلاص غواړي

که دبل نه اخلاص غواړي — اول نه دبل په کار شه!
خپل مراد نه رسېدی شي — کمینه او سه خاکسار شه

* * *

کوم نعمت دی په دنیا کښې — چه ئې بېخ نه وی دخاوري
که نعمت غواړي عاقله — نود خاوري خد متګار شه!

* * *

که راحت او عزت غواړي — د زحمت دوره کړه تېره
که دبل نه مرسته غواړي — دمانده ؤبا رور دار شه

* * *

بل نه لحای ور کړه په زړه کښې — هر یو زړه کښې به ستا لحای شی
اول لحان دقام خادم کړه — هلته نه دقام سر دار شه

* * *

په ترو و تر خو د لحینو — دلګیرمشه ملنګ جانه
حوصلې لحنې کارواخله — دموقع په انتظار شه!

هغه څوك چه د اخلاص په نیلی

سوروی

هغه څوك چه د اخلاص په نیلی سوروی
عام وخاص به ئې دزړه په مینه گوری
که گرانښست په هرچا غواړي نوځان ټینگ په صداقت کړه
دیادگار باغ به دې تل تر تل سمسوروی
عمارت دړنگو زړونو په ښه خوی سره ودان کړه
د هر چا د زړه په کور کښې به ستا کوروی
دبیکسونا امید و دلجوئی کړه قام پرور شه
په هر چا به ستا د مینې قرض او پوروی
حق ته گوره، حق ووایه، حق وغواړه، حق پرست شه
مخلصان به دې هزار هزار هر لوروی
ته ملنگ ئې ملنگ جانه په تروو ترخو غوږ کوڼ کړه
ملنگانو پسې تل دسپیو شوروی

که په عشق کښې مزی غواړی

که په عشق کښې مزې غواړې لوغړن لکه پتنگ شه
پس له مرگه به ښایسته شې سوداگر د نام وننگ شه
که دې سرغواړې چه سر شی صدقه کړه سر ناموس نه
که سرې شونډې دیار غواړې دخپل ځان په وینو رنگ شه
پخوانی هم ستا په شان و و ته هم پا څېږه همت کړه
حریت لیلی د پاره کند کچکول واخله ملنگ شه
ننگیالی چه یوخوامخ کړی په شانه ځی که پرې ومری
عزم ټینگ ساته په زړه کښې خپل هدف ته په غورزنگ شه
که ترخې له ځینوا ورې غوږ پرې کوڼ کړه ملنگ جانه
وینو ه ویده زلمیان خپل دنا اهلو نه په څنگ شه

عزلونه

صداقت

سعادت که دې په کار وی شه لېوال دصداقت
ټول جهان به ښایسته شی په جمال دصداقت
که مطلب دې سرداری وی خدمتگار اوسه د قام خپل
هر یو زړه کښې به محبوب شی په کمال دصداقت
داخلاص په دکان کښېنه جوړوه متاع د مینی
په لکو نو به خرڅېږی ستا مثقال د صداقت
توفیق وغواړه له خدایه د ماندهٔ مدد گار شه
سر کښان به واړه بند شی ستا په جال د صداقت
پریشانی کړه دزړه لېرې توانا شه ملنگ جانه
گرځوه دقام په مخکښې بل مثال د صداقت

خوښ په جزیرو کښی یم

خوښ په جزیرو کښې یم ملگری دخپل یار سره
څه به کړم گلشن په ټیټو ستر گو داغیار سره
یو خروار سره زر نه ښه دی یو مثقال شرف ماله
لنگ وهلی خوښ یم خو چه یم داقتدار سره
زر هنر به محوه شی که مخ شی د همت سره
غر دانه دانه شی دبا عزمو یو گوزار سره
خدای مې دې نواب نه کړی چه حکم کاندی بل په ما
ښه چلم ور دار یم د خپل قام یو خدمتگار سره
خدای مې دې ښایسته دبې ننگی به نکټائی نه کړی
کوتی کوتی مخ ښه یم دتورو له پرهار سره
ما ملنگ جان غوره ملنگی کړه دخپل قام مخ کښې
داسې دارائی به نه وی بل سرمایه دار سره

څه به کړی څوك هغه ژوندون...

څه به کړی څوك هغه ژوندون زړه چه په قرار نه وی
ودې چوی هغسی زړه چه ډك په عشق دیار نه وی

وګرځېدم هر طرف ته بیا مې نه موندیار چېرې
ټول دخوشحالۍ یاران دی غم کښې به په کار نه وی

مه اچوه جیب کښې کوتی لال دفېروزې په ځای
ماخله هغه تیغ په لاس څو چه جوهردار نه وی

وه کوه خواری چا سره زوی پردی به خپل نه کړې
مه وایه دوکی هغه ته څو چه ستاد پلار نه وی

مه کوه ګیله ته ملنګ جان دیوا وبل ځنی
دوست به نه شی دوست دهیچا څو چه انتظار نه وی

دمعارف ترانه

(دښکلی کوچنیان دمکتب)

وطن ګلزار شو چه کامیاب شو وطالبان دمکتب ښکلی کوچنیان د مکتب

کوچنې داخل شی پکښې پوره کامل شی پکښې
حبس ورله ور کړه راوځې لعل ومرجان دمکتب ښکلی کوچنیان دمکتب

راندہ بینا شی پکښې وحشی دانا شی پکښې
دکان دعقل دی ورځی خریداران د مکتب « « «

دمکتب خوند وګوره راشه داپند وګوره
ډیر په عزت ناست دی کرسو کښې هلګان د مکتب « « «

څه به عزت وای زما څه به عشرت وای زما
زه ملنګ جان که وای شامل په ګلستان د مکتب « « «

دیوه

په کابل کی	(٤٠) افغانۍ
: دننه هواد کی	(٤٤)افغانۍ

کال

زده کونکوته په نیمه بیه	
په هند کی	(١٢) کلداری
په دباندی نیو هیوادونو کی	(٣)دالره

بیه

دابیه دپښتو ټولنی د موسیسي دجاری شمېر په(٧١٨٧) لمبر دافغانستان

بانك هروخت اخستلای شي.

دا کتابونه ستاسی ادبی تنده ماتولای شی:

پښتنی

دمینی

سندری

هنداره

غوره

اشعار

اجتماعی

روزنه

سوری

دهند

شیرشاه

سفر

اوس لا دپښتو ټولنی په پلورنځی کی شته

دکانلی عمومی مطبعی کښی چاپ شو